# خبرې او سندرې

د نړۍ شاعران

Ketabton.com

ژباړه : نجیب منلی

کابل ۱۴۰۰ هـ.ل

© Najib Manalai - 2021

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا مجموعه

په دې مجمړعه کې د نړۍ د پنځوسو شاعرانو د شعرونو بېلګې چې ما په مختلفو وختونو کې د مختلفو انګېزو له  مخې پښتو ته ژباړلې دي وړاندې شوې دي.

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خبرې او سندرې

که د لسو ځوانو شاعرانو لس پښتو شعري مجموعې دغه اوس زما مخې ته پرتې وي او د معشوقې خصوصيات يې ببل ببل په يوه پاڼه کې وليکم:

هره يوه به يې بېسارې ښايسته وي، هره يوه به يې له عاشقه لرې وي، هرې يوې ته به عاشق په يوه کمين کې او رقيب په بل کې ناست وي. د ځوانو اکثر ښځينه شاعرانو مو هم همدا حال دی.

په دې برخه کې به دقيقه څېړنه موږ ته ډېر نور داسې جزييات په لاس راکړي چې په اخره کې ممکن نتيجه دا وي چې ټولو يوه کس ته شعر ليکلی دی. د ځينو ناقدانو په وينا عمومي مينه اصلا نه شته، ځانګړې مينه شته. د دې لپاره چې له عموميا تو راووځو او شعر مو د خصوصي احساس څښتن شي ژباړې ته اړتيا شته چې وګورو د نړۍ مشهور شاعران څرنګه مينه انځوروي او هغه څه راته وايي چې په خپلو حواسو يې درک کوي.

د عشقي شعرونو ترڅنګ زموږ د نورو ډېرو شعرونو مفاهيم هم د زاړه نقد پر اصولو ولاړ دي. يوشمېر پخوانيو نقادانو به له شعره يوازې دا ټکي غوښتل:

موسيقي، تخيل، ژبه او د لفظ او معنا ترمنځ رابطه

د موسيقي بحث ژور دی، چې د ټول شعر موسيقي، د هر لفظ موسيقي د هرې کلمې او د هغه له څنګلورې سره ګډه موسيقي او د هرې کلمې دننه د حروفو موسيقي هم پکې شامله ده.

د شعر داخلي موسيقي ته مو نن سبا له څو مخکښو شاعرانو پرته ښايي ډېرو کمو پام کړی وي حتی د عمومي اهنګ له مخې مو اکثرو د خپلو غزلو لپاره تر ډېره پر دولس او پنځلس سيلابونو تکيه کړې ده. ازاده شاعري مو هم محدود وزنونه لري. د لفظ او معنا تړاو بيا هغه وخت اهميت پيدا کوي چې نوي موضوعات او مفاهيم په شعر کې ځای کړو. همدې انديښنو ته ځينو افغان شاعرانو په تيرې شاوخوا نيمې پيړۍ کې پام کړی او يوشمېر ازاد شعرونه يې ليکلي دي، دا ګټوره هڅه غالبا د دې لپاره وه او ده چې له تکراره راووځو خو ګومان کوم د کميس له بدليدو سره فکر نه بدليږي. د زاړه کميس( غزل، رباعي، قصيده...) لمن هم د شعر هغه تعريف ته تنګه نه ده چې نامتو امريکايي شاعر رابرټ فراسټ (۱۸۷۴-۱۹۶۳) کړی دی: « کله چې عاطفه فکر پيدا کړي او فکر کلمات »

يوه برخه شاعرانو مو بيا د تکرار د مخنيوي لپاره د شعر ځولۍ د ګاونډيو پر پله د اروپايانو په تقليد غوړولې، اسطورې پکې راغونډوي او د پيچلو روحي موضوعاتو بيان ته يې د شعر څادر وير کړی دی. دا هڅې ښايي هغه وخت اغيزمنې وي او په ځای وي چې د اروپايي شاعرانو ډېر شعرونه ولولو، پوه شو چې اسطوره څرنګه او څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت د استعمال ده او څرنګه د شعر غمی کیدای شي. همداراز په دا ډول شعرونو کې د اروپايي ناقدانو غوښتنو ته هم پام وکړو.

د ښه شعر لپاره یو شمیر اروپايي کره کتونکي پر دې ټکیو ټینګار کوي:

چې په شعر کې یو فکر وي

د خپل فکر لپاره مو ښه شعري چوکاټ پیدا کړی وي

د شعر لپاره مو مناسب کلمات غوره کړي وي

له موضوع سره مو سم تصویر انتخاب کړی وي

هرهغه څه چې اضافي دي هغه مو لرې کړې وي

نه مو خبره په ډیرو لنډو بیان کړې وي نه مو غځولې وي

شعر مو داسې لیکلی وي چې د لوستونکي عاطفه مو پارولې وي

او ځیني شعرونه چې سمدستي عاطفي عکس العمل نه لري دا کمال ولري چې تدریجي اغیزې وشیندي.

په دې ډول په شعر کې د یوه فکر د ځاییدو په خاطر یو ډول توازن پکار دی. د دغه انډول د سم درک لپاره د نړۍ د ښو شاعرانو د شعرونو لوستل ضروري دي چې عملا پوه شو.

همداراز ښه نړیوال شعرونه موږ په یوې فردي ژورې تجربې کې شریکوي چې داسې شعرونه ممکن افغان شاعر په خپل شعر کې د عمومیاتو او تکرار ویلو پر ځای د خپلو تجربو شراکت ته وهڅوي. د نړۍ د ښو شاعرانو فردي تجربه زموږ د ګڼو شاعرانو په څیر یوازې په خیال ولاړه نه ده، فکر هم ورسره مل دی چې دغه فکر یې د تکرار له دایرې باسي.

قلندر مومند په یوه بیت کې وایي:

د پرکار په څیر څرخیږم د هدف په منزلونو

انتها ته چې رسیږم ابتدا مخې ته راشي

استاد شاعر قلندر مومند که د هدف د ترلاسه کولو لپاره دا بیت لیکلی دی په پښتو شعر کې له دغه څرخه د راوتلو لپاره ښايي تر ټولو اسانه لاره دا وي چې د نورې نړۍ شعرونه مطالعه کړو، هغو ته ځیر شو چې شاعران یې څرنګه او څه ډول خپل احساس بیانوي.

په دې کتاب کې مو استاد منلی د نړیوالو له شعرونو سره اشنا کوي. د ده دا هڅه رنګینه هڅه ده چې هم د لویدیځ د اوسنیو او پخوانیو یوشمیر شاعرانو شعرونه یې ژباړلي دي او هم یې د ختیځ د یوشمیر اوسنیو او پخوانیو شاعرانو شعرونه پښتو کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مجموعه ښايي زمونږ يوشمير شاعرانو ته دا ګټه ورسوي چې په نوي انداز شاعري وکړي، فکر په شعر کې په طبيعي ډول ځای کړي، عادي موضوعات شعري کړي او لکه ګڼ اروپايي شعرونه مکان ته په شعر کې ځانګړې اهميت ورکړي.

زمونږ په اوسنيو شعرونو کې واړه مکانونه لږ ياديږي. دلته په دې مجموعه کې د شاعر ګيوم اپولينير په شعر کې د ( ميرابو) په نوم د پاريس د سيند پر سر پله ته اشاره شوې:

زمونږ د لاسونو تر پله لاندې
د تلپاتې نظرونو
ستړې څپې دي چې بهيږي
شپه دې راشي، وخت دې پوره شي
ورځې تيريږي، زه پاتې کيږم
د دې اوبو غوندې مو مينه په تيريدو ده
مينه ځي، درومي
ژوندون مو څومره په ورو تيريږي
هيلې مو څومره له شدت ډکې
....
....
....
د ميرابو د پله تر لاندې سين بهيږي
شپه دې راشي، وخت دې پوره شي
ورځې تيريږي، زه پاتې کيږم

زمونږ د شعر دا اړخ هم ماته کم رنګه ښکاري چې ليدلورى يې محدود دى داسې لږ شعرونه ښايي ولرو چې حال له ماضي سره ماضي له راتلونکې سره يکې يوځای شوې وي او دا زمانونه لکه لنډه کيسه يکې تيريير راغلي وي. د نورو شعرونو ژباړې ممکن زمونږ شاعر دغه ليدلورې ته هم متوجه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړل شوي شعرونه که زموږ شاعرانو ته ډير څه ورکوي، ژباړه يې اسانه نه ده. د منلي صاحب په څير استادان دا کار کولی شي چې هم په پرديو ژبو( فرانسوي او انګليسي) مسلط وي هم په خپله ژبه دومره حاکم وي چې پرې شعر ليکي، داستان ليکي او نقد ليکي.

د منلي صاحب د برلاسي سربيره د بلې ژبې د شعر د کلماتو ژباړه ښايي سخته نه وي خو د احساس انتقال له يوې ژبې بلې ته ستونزمن کار دی.

ښايي د همدې لپاره ښاغلي منلي د فرانسوي شاعر لويي اراګون د شعر يوه برخه داسې ژباړلې:

له ښادۍ نه چې غربيږي، د هغوی سترګو کې غم وي
بل څه نه دي، بس د مړې هيلې سلګۍ ده
ربابي لاس کې شلېدلی تار نيولی!
خو بيا هم زه درته وايم، ښادي ښته ده

په اصلي ژبه کې ربابي نه دی ياد شوی ځکه چې رباب خو فرانسويان نه لري هلته د ګيتار هنرمند ياد شوی دی.

منلي صاحب په دې کتاب کې د اسپانيايي شاعر فدريکو ګارسيا لورکا شعر په دې عنوان ژباړلی« لمانځه ته ولاړه نجلۍ» او په يوه برخه کې يې راغلي دي:

دا د تيونو شنې هندوانې دي
د لمونځ دعا ته نذر کې ورکړه

په لمانځه ولاړه نجلۍ او د لمونځ په وخت دعا افغان تصوير دی او احساس يې هم وطني دی.

له يوې ژبې بلې ته د احساس د دقيق انتقال ستونزې يوشمير ناقدان له پخوا راهيسې دې ته هڅولي دي چې په زغرده له يوې ژبې بلې ته د شعر له ژباړې سره مخالفت وکړي... د دريمې قمري پيړۍ نامتو عرب نقاد جاحظ (775م ـ 868م ) په خپل مشهور اثر (الحيوان) کې ليکي چې شعر نه ژباړل کيږي. د جاحظ په وينا که شعر ترجمه شي نو په نثر به بدل شي او عادي نثر به هم نه وي ځکه چې عادي نثر تل تر هغه نثر ښايسته دی چې له شعره ترلاسه شوی.

بل لور ته هغه کره کتونکي چې د شعر له ژباړې سره مخالفت نه کوي له دې سره مخالف دي چې په معنا کې د احساس د انتقال په خاطر تغيير راشي. دا ډله چې د شعر د ژباړې پلوي کوي، استدلال يې دا دی چې د نورو ژبو ژباړل شوې شعرونه موږ ته يوه نوې کړکۍ پرانيزي چې له دې کړکۍ نړۍ ته په نوي نظر کتلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژباړې له لارې دې هدف ته د رسیدو لپاره لاره پوټلنه ده، کندې کېږه ده، هواره نه ده. لومړی خو ځینې شعرونه د ژباړې نه دي ځکه چې یو مفهوم په یوه ژبه کې ښه افاده کیدای شي او د کلتوري اغیزو تر سیورې لاندې نورې پټې معناوې خپلوي چې د ژباړې په وخت یې افغان لوستونکي ته لېږدول سخته کېږي.

زما خپله تجربه دا ده چې په یوه اوږده شعر کې کله ناکله یوه کلمه ټول شعر له ژباړې باسي. د « تنسی» یا هیرول په نوم د عرب شاعر محمود درویش(۲۰۰۸-۱۹۴۱) یو شعر دی. کوم قوت چې د همدې « تنسی» په لفظ کې پروت دی چې هم لنډه ده، هم سین لري او هم په اخره کې اوږد واول « مقصوره یا» چې د یاس معنا تداعي کوي په پښتو کې معادله کلمه نه لري. یوازې ممکنه ده چې معنا یې انتقال شي. د دې شعر یوه برخه ما داسې ژباړلې ده:

ته هیریږې، لکه ته چې کله نه وې

ته هیریږې، لکه مړشوی مرغه

ته متروکه کلیسا یې، ته هیریږې

لکه د لارې د سر مینه

لکه په واوره کې ګل...

ته هیریږې

یوشمیر کلمات تر ظاهري معنا ورها خوا نورې معناوي لري چې هغو ته مجازي وایو خو ځیني کلمات تر مجاز هم ورها پلو ځیني پټې معناوې لري. لکه د تنسی کلمه د محمود درویش په پورتني شعر کې.

کله ناکله بیا د ژباړې په وخت د یوه لفظ معناوې غبرګې شي چې ژباړه نوره هم ورسره سخته شي:

حافظ شیرازي وایي:

دوش در حلقه ی ما قصه ی ګیسوی تو بود

تا دل شب سخن از سلسله موی تو بود

دوش د تیرې شپې معنا ورکوي، دوش رمنځې ته هم وايي نو د همدې دوش لپاره په دې شعر کې د محفل پر ځای د ( حلقه) کلمه کاریدلې ده چې له ویښتو سره تړاو پیدا کوي. په دوهم بیت کې بیا شپه ده چې توره وي او له تورو ویښتو سره ارتباط پیدا کوي د دغه ډول بیتونو ژباړه بیا نوره هم سخته کیږي.

د شعر د ژباړې ستونزې ژباړونکی مجبوره کوي چې د ترجمې ځیني اصولو ته شا کړي. لکه استاد منلي چې په دې کتاب کې په ځینو ځایونو کې همداسې کړې دي. استاد په دې کتاب کې د ژباړې یو بل اصل هم غورځولی دی هغه د ژباړې ژباړه ده او پر بل اتکا ده، خو په دې برخه کې منلي صاحب د یوه صادق ژباړونکي په توګه د هغو کسانو نوم هم په امانتدارۍ اخلي چې د ترجمې پرمهال یې مرسته ورسره کړې ده. دې مرستې هم ګټه رسولې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاوان، ګڼه یې دا ده چې یو بهرنی شعر پښتو شوی دی او زیان یې دا دی چې منلي صاحب خپلو هغو دوستانو ته هم د ځان په سترګه کتلي دي او پر هغوی یې اعتماد کړی دی په داسې حال کې چې منلی صاحب د افغانستان د یوه منلي لیکوال په توګه د یوه شاعر، د یوه نقاد په توګه د هغه شعر باریکۍ په طبیعي ډول ډیرې ښې درک کولی شي چې په هغه ژبه پوهیږي. د منلي صاحب تر دې اعتماد پورې به د کتاب یو عربي شعر راواخلم چې دوی د بل په مرسته ترجمه کړی دی. په دې شعر کې معنا رسیدلې، شعریت په ځینو برخو کې په نیمه لاره کې پاتې شوی، مثلا په ژباړه کې لولو:

سپین ویښته مې په سر ښکارې

دا ژباړه د هغه چا په حساب سمه ده چې عادي مطلب ژباړي خو په اصلي شعر کې همدا جمله داسې ده:

« ځوانې له لاسه تللې

زړښت مې سر نیولی»

د همدې عربي شعر په یوه بله برخه کې راغلي:

خو ای کاش چې اې زما د زیږیدو کړیلې ورځې

تا پسې بل سبا نه وای

په اصلي شعر کې دلته همدا ( سبا ) راغلی خو په دې شکل:

کاش چې دا کلیزه

بې سبا وای..

د همدې شعر بله برخه:

بې ځواني د عمر شپې وې

دې ژوندون کې سپرلی نه و

اصل ته نژدې:

« زه یو عمر بې شبابه

زه یو ژوند وم بې بهاره»

یو بل ځای دا عربي شعر داسې ژباړل شوی:

« محبت په درد اخلم»

له اصله که دا وژباړل شي داسې راځي:

مینه مې اخیستې په عذاب ده

پیرودلې له هغو چې یې پیرلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرته پښتانه دې ته انتظار شي چې د ژباړې تول منل شوي اصول به مراعاتوو کنه انتظار به کوو نو ګومان نه کوم چې د نړۍ مهم اثار به دې ژبې ته ژباړل کیږي، ځکه چې بیا به د استاد منلي په څیر یو لیکوال په سختۍ موندل کیږي چې هم په فرانسوي ژبه حاکم دی، هم په انګلیسي ښه پوهیږي او هم د پښتو لیکوال دی.
د کورونا په کال چې دې اخیستونکې ناروغۍ د افغانانو ژوند تریخ کړی و، خپله استاد هم په دې وبا اخته شوی و او بیا یې هم موږ تاسو ته د نړۍ دا مهم شعرونه رارسولي دي، مننه نه، منڼې کمې دي. د دوی پر ژوند دې برکت وي.

اجمل پسرلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Guilleaume Apollinaire – ګیوم اپولینېر

۱۸۸۰-۱۹۱۸



د فرانسې د شلمې پېړۍ یو تر ټولو مهم شاعر بلل شوی دی چې د شلمې پېړۍ د لومړیو کلونو د څو مهمو مکتبونو او سبکونو لکه کوبیسم (Cubisme)، اورفیسم (Orphisme) او سوریالیسم (Surréalsme) په سرلارو کې شمېرل کېږي. د کالیګرام ( Calligramme: چې شعر د انځور په بڼه لیکل کېږي) په برخه کې یې هم هڅې د یادولو دي.

د سورریالیسم کلمه هم ده ایجاد کړې ده. د دې ادبي مکتب په تعریف کې وایي : «کله چې انسان وغوښتل چې د تګ پېښې وکړي نو ارابه یې اختراع کړه چې له پښې سره هېڅ ورته والی نه لري. په دې توګه، پرته له دې چې په خپله هم پرې پوه شي، انسان سورریالسم را منځ ته کړ.»

د کالیګرام بېلګې:

| په تبغ وهلې کوتره: | اس |
| --- | --- |
|  |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د میرابو پول[1]

د میرابو د پله تر لاندې، سېن بهېږي
ورسره زموږه مینې
ایا په کار دي چې رایاد کړم
د غم پسې به خوشالي وه
شپه دې راشي، وخت دې پوره شي
ورځې تېرېږي، زه پاتې کېږم
لاسونه یو بل ته ورکړي، مخامخ یو
زموږ د لاسونو تر پله لاندې
د تلپاتې نظرونو
ستړې څپې دي چې بهېږي
شپه دې راشي، وخت دې پوره شي
ورځې تېرېږي، زه پاتې کېږم
د دې اوبو غوندې مو مینه په تېرېدو ده
مینه ځي، درومي
ژوندون مو څومره په ورو تېرېږي
هیلې مو څومره له شدت ډکې
شپه دې راشي، وخت دې پوره شي
ورځې تېرېږي، زه پاتې کېږم
ورځې تېرېږي، اونۍ تېرېږي
نه تېر وختونه نه تېرې مینې
بېرته راګرزي
د میرابو د پله تر لاندې سېن بهېږي
شپه دې راشي، وخت دې پوره شي
ورځې تېرېږي، زه پاتې کېږم

Le Pont Mirabeau

[1] په پاریس کې د سېن سیند له پاسه د یو پول نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

Sous le pont Mirabeau coule la Seine
Et nos amours
Faut-il qu'il m'en souvienne
La joie venait toujours après la peine
Vienne la nuit sonne l'heure
Les jours s'en vont je demeure
Les mains dans les mains restons face à face
Tandis que sous
Le pont de nos bras passe
Des éternels regards l'onde si lasse
Vienne la nuit sonne l'heure
Les jours s'en vont je demeure
L'amour s'en va comme cette eau courante
L'amour s'en va
Comme la vie est lente
Et comme l'Espérance est violente
Vienne la nuit sonne l'heure
Les jours s'en vont je demeure
Passent les jours et passent les semaines
Ni temps passé
Ni les amours reviennent
Sous le pont Mirabeau coule la Seine
Vienne la nuit sonne l'heure
Les jours s'en vont je demeure

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Louis Aragon – لوېي اراګون

۱۸۹۷ –۱۹۸۲



لوېي اراګون، فرانسوي شاعر، ناولیست، او سیاستوال دی چې د شلمې پېړۍ فرانسوي ادبیاتو کې یې هم په تخلیقي برخه کې او هم د ادب د تیوري په برخه کې د پام وړ کار کړی دی.
په لومړي سر کې یې له اندرې بروتون (André Breton)، تریستان زارا (Tristan Tzara)، پول اېلیوار (Paul Eluard) او فیلیپ سوپو (Philippe Soupault) سره د پاریس د دادایي (Dadaïsme) کړۍ جوړه کړه، وروسته یې د سورریالیسم (Surréalisme) د ادبي مکتب په رامنځ ته کولو کې مهم نقش ولوباوه او په ۱۹۳۱ کې یې سوسیالیستي ریالیسم ته مخه کړه.
د دویمې نړۍوالې جګړې پر مهال د فرانسې د مقاومت فعال غړی و او د فرانسې د مقاومت د ادبیاتو په وده او پراختیا کې یې د سرلاري نقش درلود.
له خپلې مېرمنې اېلزا تریولې (Elsa Triolet) سره یې د جوابي ناولونو یوه لړۍ هم خپره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې له تا نه به زه څه وم؟

که راغلې راته نه وای، بې له تا نه به زه څه وم
زه به څه وم؟ په ځنګله کې به یو زړه، په خوب ویده وای
دساعت پر مخ ولاړه یوه ستنه
بې له تا نه به زه څه وم؟ زه به هسې یو تش زوږ وم.
د انسان د ژوند خبرې ما له تا نه دي زده کړې
زه نړۍ ته نور د تا له سترګو ګورم،
ما هر څه له تا زده کړي: له چینې نه اوبه څرنګه څښل کېږي
لاروی چې پر لار ځي سندرې وايي، پسې څنګه تکرارېږي
ما هر څه له تا زده کړي، ان د زړه تر رېږدېدلو
څه چې یمه، ما هر څه له تا زده کړي
چې غرمه کې رڼا ورځ وي او اسمان هم شین کېدای شي
چې ښادي د دوکانونو څراغ نه دی
د دې عصر په دوزخ کې تا له لاسه ونیولم
دې دوزخ کې چې انسان ته دوه په دوه اوسېدل نه زده
د نېکمرغه عاشق غوندې، تا له لاسه و نیولم.
له ښادۍ نه چې غربېږي، د هغوی سترګو کې غم وي
بل څه نه دي، بس د مړې هیلې سلګۍ ده
ربابې لاس کې شلېدلی تار نیولی!
خو بیا هم زه درته وایم، ښادي شته ده
له خوبونو نه د باندې او له ورېځو نه راښکته!
ځمکې، ځمکې راشه ګوره، د ښادۍ ورک ساحلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Que serais-je sans toi

Que serais-je sans toi qui vins à ma rencontre
Que serais-je sans toi qu'un cœur au bois dormant
Que cette heure arrêtée au cadran de la montre
Que serais-je sans toi que ce balbutiement

J'ai tout appris de toi sur les choses humaines
Et j'ai vu désormais le monde à ta façon
J'ai tout appris de toi comme on boit aux fontaines
Comme on lit dans le ciel les étoiles lointaines
Comme au passant qui chante on reprend sa chanson
J'ai tout appris de toi jusqu'au sens du frisson

J'ai tout appris de toi pour ce qui me concerne
Qu'il fait jour à midi qu'un ciel peut être bleu
Que le bonheur n'est pas un quinquet de taverne
Tu m'as pris par la main dans cet enfer moderne
Où l'homme ne sait plus ce que c'est qu'être deux
Tu m'as pris par la main comme un amant heureux
Qui parle de bonheur a souvent les yeux tristes
N'est-ce pas un sanglot de la déconvenue
Une corde brisée aux doigts du guitariste
Et pourtant je vous dis que le bonheur existe
Ailleurs que dans le rêve ailleurs que dans les nues
Terre terre voici ses rades inconnues

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مينې کم ټکي

د مينې ټکي دومره کم دي
چې سر تر پايه پرې دردېږم
ځکه جملې سره رانغاړم.
را ته ويل دومره ترخه شي
لکه غنم چې په لرونو رېبل کېږي
د مينې ټکي دومره کم دي
چې سر تر پايه ټول يو شک شم
چې اظهار شوې مينه څه ده؟
زه د واټونو دروېزګر يم
هيڅوک زما سندره ناوري
د مينې کم ټکي تر غوږو نه رسېږي
د مينې ټکي دومره کم دي
ټول دي يو بل ته سره ورته
ځکه مين واړه يو رنګ دي
ځکه شعرونه ټول يو شان دي
چې مينه وايم رنګ مې سور شي
په دې د زړه سوده نه کېږي
د مينې ټکي دومره کم دي
چې نه پوهېږم چې څه وکړم
د ورېځو سپېښتې راخورې کړئ
د جنت او د دوزخ کيسې ته ګوره
مرګ او ژوندون ورته يو شان دي
او دغه زموږ خبرې واړه
ويشتل شوې څو مرغۍ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Du peu de mots d’aimer

Du peu de mots d'aimer j'ai peine
Qui fait que la phrase me faut
Je ne sais rien voir que mes veines
Et m'est la parole inhumaine
Comme blessé le blé la faux

Du peu de mots d'aimer j'ai doute
De ce qu'est l'amour exprimé
Je suis le mendiant des routes
Personne ma chanson n'écoute
N'entend le peu de mots d'aimer

Du peu de mots toujours les mêmes
Qui font semblables les amants
Et plus encore les poèmes
A rougir de dire je t'aime
Comment se contenter comment

Du peu de mots d'aimer que faire
Battez les cartes des nuées
Le jeu du ciel ou de l'enfer
A vivre ou mourir ne diffère
Les mots sont des oiseaux tués

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Mohammad Kamal El-Shennawi – محمد کمال الشناوی

۱۹۲۱ – ۲۰۱۱



مصری سینماګر، دتلویزیون او سینما لوبغاړی او شاعر.[2]

[2] شعر د فرید الاطرش د یوې سندرې له مخې له عربي څخه ژباړل شوی. د عربي متن په پوهېدو کې راسره ښاغلي اللهنور سېلاب مرسته کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زېړېدو ورځ

ای زما د زېږېدو کړلې ورځې بیا هم راغلې
ماشومتوب مې را نه تللی
سپین وېښته مې پر سر ښکاري
خو ای کاش چې ای زما د زېږېدو کړلې ورځې
تا پسې بل سبا نه وای
کاش چې زه د ژوند صحنې ته
له ازله داخل نه وای!
ژوند مې وکړ خو پوه نه شوم
چې دا هم ګوندې ژوندون و
کاش چې زه هم له ازله
تش یو روح وای پاتې شوی.
بې ځوانی د عمر شپې وې،
دې ژوندون کې سپرلی نه و.
محبت په درد اخلم
که یې څوک راباندې پلوري
زه یو وهم، یو سراب یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوم مولدى

عُدت يا يوم مولدي
عُدت يا أيها الشقي
الصبا ضاع من يدي
و غزا الشيب مفرقي
ليت يا يوم مولدي
كنتَ يوما بلا غد
ليت أني من الأزل
لم أعش هذه الحياة
عشتُ فيها و لم أزل
جاهلا أنها حياة
ليت أني من الأزل
كنت روحا و لم أزل
أنا عمر بلا شباب
و حياة بلا ربيع
أشتري الحب بالعذاب
أشتري فمن يبيع
أنا وهم
أنا سراب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امیر خسرو دهلوی

۱۲۵۳ – ۱۳۲۵



ابوالحسن یمین‌الدین خسرو چې په خسرو دهلوي مشهور دی د هند له سترو پارسي ژبیو شاعرانو دی.

امیرخسرو، چې اصل یې د بلخ دی، د خواجه نظام‌الدین اولیا له مریدانو څخه و. په تصوف کې یې لوی لاس درلود .

په هندي موسیقي کې د «غزل» بنسټګر بلل کېږي. د قوالي نسبت هم ده ته کېږي او د موسیقي د آلاتو په ایجاد کې یې هم د پام وړ کار کړی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه ښه زېری په ما وشو چا وې ته راځې نګاره
زما سر دې ترې قربان شي چې راځې په کومه لاره

سا مې شونډو ته راغلې، یاره راشه چې ژوندی شم
چې زه مړ شم وایه وایه چې راځې د څه له پاره

په دې رنګ به دې پرې نه ږدي، محبت کې جاذبې شته
جنازې ته که را نه غلې هم به راشې تر مزاره

د سارا ټولو هوسیو سر د عجز په تیږه ایښی
بس د دې په انتظار کې چې به ښکار ته راشې یاره

چې یو ځلې په ما راغلې دین او زړه دې رانه یوړل
لا به څه شي که په دې شان راته راشې دوه درې واره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرم رسیده امشب که نگار خواهی آمد
سر من فدای راهی که سوار خواهی آمد

به لبم رسیده جانم، تو بیا که زنده مانم
پس از آنکه من نمانم به چه کار خواهی آمد

کششی که عشق دارد نگذاردت بدینسان
به جنازه گر نیایی به مزار خواهی آمد

همه آهوان صحرا سر خود نهاده بر کف
بامید آنکه روزی به شکار خواهی آمد

به یک آمدن ربودی دل و دین و جان خسرو
چه شود اگر بدینسان دو سه بار خواهی آمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اناکرېون – Anacreon

۵۵۰ ق.م – ۴۶۴ ق.م



د پخواني یونان شاعر چې د خپل هنر ډېره برخه یې د مینې د باندار شاعرۍ ته ځانګړې کړې ده. په پخواني یوناني ادب کې «اناکرېوني شاعري» هغه شعر ته ویل کېږي چې له ذوقي (غیر جدي) مسایلو سره کار لري (لکه مینه، ساز او شراب). اناکرېوني سبک په خپل ظرافت او ساده ګۍ پېژندل کېږي. اناکرېوني سبک خپل خاص وزنونه لري چې په راوروسته پېړیو کې یې په یونان او روم کې ډېر پلویان موندل. اناکرېون په شعر کې افراط نه خوښوي («زه مینه کوم او مینه نه کوم، زه لېونی یم او لېونی نه یم»)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښځې[3]

طبیعت ورکړل غوایانو ته ښکرونه
او اسانو ته سمونه
و سویانو ېې چالاکې پښې ورکړې
د زمریو برخه خوله، تېره غاښونه
د ماهیانو په نصیب شول شهپرونه
او مرغانو ته یې ورکړلې وزرې
نارینه وو ته غښتې زړه او کلک هوډونه
نور نو ښځو لره هېڅ هم پاتې نه شول
نو چې ښځو ته به څه وي ورکړل شوي؟
دا ښکلا ده
چې تر سپره هم څواکمنه
او لا کلکه تر نېزو ده
ښکلې ښځه ده برلاسې
پر فولادو او اورونو

[3] د الکساندر مشار (ALEXANDRE MACHARD) او لوکونت دو لیل (Leconte de Lisle ) د فرانسوي ژباړو له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ΑΛΛΟ ΕΡΩΤΙΚΟΝ. (B. 24.)

Φύσις κέρατα ταύροις,
ὁπλὰς ἔδωκεν ἵπποις,
ποδωκίην λαγωοῖς,
λέουσι χάσμ' ὀδόντων,
τοῖς ἰχθύσιν τὸ νηκτόν,
τοῖς ὀρνέοις πέτασθαι,
τοῖς ἀνδράσιν φρόνημα.
γυναιξὶν οὐκ ἔτ' εἶχεν.
τί οὖν; δίδωσι κάλλος
ἀντ' ἀσπίδων ἁπασᾶν,
ἀντ' ἐγχέων ἁπάντων.
νικᾷ δὲ καὶ σίδηρον
καὶ πῦρ καλή τις οὖσα.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نادیا انجمن

۱۹۸۰ – ۲۰۰۵



نادیا انجمن د افغانستان د دري ژبې شاعره ده.

په هرات کې زېږېدلې. د طالبانو د واک پر مهال يې خصوصي زده کړې وکړې او وروسته يې د هرات پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی ولوست.

په ۲۰۰۴ کال کې يې لومړۍ شعري ټولګه «ګل دودی» چاپ شوه.

د کورني تاوتريخوالي له امله د ۲۰۰۵ کال د نومبر پر پینځمه ووژل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تېښته

زموږ زړونه ستړي شوي
له دردونو، ناچاریو
موږ ورک شوي یو په خاورو، په تیارو کې
ځو روان یو، بیا راتله زموږه نه شته
ښه چې وتښتو له دغو
ابته، تشو خبرو
د جنت د باغ مرغۍ یو
د دنیا په لومه نښتې
بې ګناه په دغو خیرو کې یو پاتې
هر هر چا مو پر وزرو غشي وارکړل
نور نو وس د خوابدۍ راپاتې نه دی
دا دنیا موږ ته زندان و موږ تړلي په قلفونو
ښه چې خلاص شو مرېي توب نه
نور مو نشته خوشې هڅو سره مینه
زموږ زړونه ستړي شوي
له دردونو، ناچاریو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فرار

خسه شد دل‌هاي ما از دردها، بيچارگي‌ها
گم شديم آخر ميان خاك‌ها در تيرگي‌ها

مي‌رويم اين بار و ما را نيست برگشتي دوباره
اي خوشا بگريختن از دست اين بيهودگي‌ها

مرغي از باغ ارم بوديم اندر دام گيتي
بي‌گُنه مانديم در دامان اين آلودگي‌ها

هر كسي آزرد با تيري پَر كوتاه ما را
بار ديگر نيست ما را تاب اين آزردگي‌ها

دهر زندان بود و ما دربند قفل آهنينش
اي خوشا بر ما كه رستيم از حصار بند گي‌ها

در تپش‌هاي مداوم نيست ديگر اشتياقي
خسته شد دل‌هاي ما از دردها بيچارگي‌ها

اسد 1379

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماتېدل

څومره ساده څومره رېښتینې،
په غوړېدلو دې باور و،
ته د خپل صبر کور کې
په انتظار کښېناستې
که پسرلی را نغی
بیا هم د خیال ورمو کې
ستا خولې موسکا کوله
تا به سبا ته کتل
خو پسرلی په تا کې و نه غوړېد
بخت دې له تا سره یاري و نه کړه
ته چې مینه شوې ظالمې سیلۍ
ستا د امید ګلونه ورژول
غوټۍ و نه سپړل شوې
څانګې دې ماتې شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شکست

چه صادقانه، چه ساده
تو با یقین به شکفتن
درون حجره‌ی صبرت به انتظار نشستی
اگر بهار نیامد
تو با نسیم خیالت
لبی به خنده گشودی
و دل به آتیه بستی
ولی دریغ که هرگز
بهار در تو نجوشید
و بخت با تو نخندید
و تا به عشق رسیدی
بلای ظالم توفان
گل امید ترا چید و
ناشکفته شکستی

اسد 1380

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چې...

د تا سترګو کې چې غم وي
راته ښکاري چې په ما کې
یو څه شته دی چې ماتېږي
او چې ته د زړه له تله
کله مړاوی شې ، خپه شې
زړه مې ولوېږي، کنګل شم
بیا چې راوګورې ، بې حاله شمه
اوبه اوبه شم ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وقتی ...

وقتی که چشم‌های تو غمگین اند
حس می‌کنم که در من
چیزی شکستنی‌ست
وقتی تو از نهایت قلبت گرفته ای
تا انجماد دلهُره پرتاب می‌شوم
وانگاه اگر نگاه تو جریان کند به من
ناگه ز خویش می‌روم و
آب می‌شوم
حوت 1381

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سبا په شپه کې

ما لټولې یې، تر زر وارو ډېر
او په هر وار لټون مې
د تیږو بند مات کړی
تا پسې ډېره ګرزېدلې یم، تر زر وارو ډېر
خو چې هر وارې ګرزېدلې یمه
دا مې زده کړي چې موندای دې نه شم
له ما نه لېرې یې ته، ډېر لېرې یې
خو ستا جلوې، لکه باران نه مخکې پړک د برېښنا
زما په شعر کې راښکاره شی کله
کله دې وینمه د تورو کارخانه کې چې رڼاوې اوبې
د یو الهام په لاسو،
خو بیا پوهېږم چې الهام نه شته رڼا نه شته ده
زه هر ماښام له سپوږمۍ
د تا پوښتنه کوم
هغه حال وایي راته
خو نه پوهېږم چې مطلب یې څه دی
تش په خبرو کې یې
د حیرت څوړ اورمه
تا به لا هم لټوم
تا به لا ګورمه او مومه به دې
او زه به هره شپېبه
سبا په شپه کې لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فردا در شب

تُرا جُستم، هزاران بار
و در هر بار جُستن، سد سنگی را شکستم
تُرا گشتم هزاران بار
پس از هر بار گشتن یافتم این را که
نایابی
تو دوری دور، اما جلوه‌هایت
چونان رعد ناپایی که در آغاز باران‌ها پدید آید
در اقلیم شعر من به دید آیند
گهی در کارگاه واژه‌ها می‌بینمت
نوری
که با دستانی از الهام، می‌بافی و می‌پیچی
ولی ناگاه می‌دانم که الهامی نمی‌بینم و
نوری نیست
تُرا هر شب من از مهتاب می‌پرسم
جوابم می‌دهد اما نمی‌دانم چه می‌گوید
فقط حس می‌کنم لحن کلامش حیرتی دارد
تُرا من باز خواهم جست، خواهم گشت و خواهم یافت
تُرا امشب میان آسمان واژه‌ها تفسیر خواهم کرد
و من آنگاه
تا هر گاه
فردا را به شب دارم
ثور 1380

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې رنګه

مه کوه خواري د زړه کولپونه خلاصېدای نه شي
ستا د ارزوګانو پیکره هم سازېدای نه شي
ستا د لورېینو خزانې دي ډېرې، ډېرې دي
دې واړه کالبوت کې دا هېڅکله ځایېدای نه شي
مخې ته مو لاره ځنګ په ځنګ دوه سمې کرښې دي
ځکه خو له ما او تا نه مونږه جوړېدای نه شي
خط و خال مې خوشې را ته مه ستایه پتنګ چې هم
وسوزي وزرونه نور نو بیا ښکلی کېدای نه شي
زیری د پسرلي د راتلو ما باندې په کار نه دی
سروه چې سرکپ شي نوره پورته لوړېدای نه شي
ته به مسیحا یې خو پر ما ګوره سا پو نه کړې
دې زړه کې چې داغ دی ستا په دم هم رغېدای نه شي
زه د ژوندانه پر کتاب تت، بې رنګه ټکی یم
داسې کاږه توري په هیڅ روانېدای نه شي
پرېږده چې نالوستې نا اشنا همداسې ومري نور
دا ټکي سپېره دي په دې هیڅوک پوهېدای نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کمرنگ¬ترین / نادیا انجمن

آزار مکش! قفل دلم واشدنی نیست
تندیس تمنای تو پیدا شدنی نیست
گنجینه¬ی لطف تو بزرگ است بزرگ است
در پیکره¬ی کوچک من جاشدنی نیست
راهی که فراروست دو خط متوازیست
یعنی که حدیث من و تو ماشدنی نیست
توصیف مکن از خط و خالم، مفریبم
پروانه¬ی پرسوخته، زیباشدنی نیست
بیخود مده امید بلندم به بهاران
سروی که کمربر شده، بالا شدنی نیست
شاید تو مسیحا شده ای، لیک مزن دم
دردی که دلم راست، مداوا شدنی نیست
کمرنگ¬ترین واژۀ دیوان حیاتم
در خط کج و ریز، که خواناشدنی نیست
بگذار که ناخوانده و بیگانه بمیرد
این واژه نفرین شده معناشدنی نیست
اسد 1381

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جوسيپې اونګاریتي - Giuseppe Ungaretti

۱۸۸۸ – ۱۹۷۰



ایټالوي شاعر دی. پلار يې د سويز کانال په جوړولو کې کار کاوه، نو دی په اسکندریه کې زېږېدلی او لوی شوی. په پاریس کې يې زده کړې کړې دي. په ۱۹۱۴ کې چې لومړۍ نړۍوال جګړه پیل شوه عسکری ته يې مخه کړه. په شعر کې يې نوې تجربې کړې دي چې د شعري صنعتونو نه کارول يې یوه ځانګړتیا ده.[4]

[4] دا شعر يې له ایټالوي څخه ژباړل شوی دی. د ایټالوي متن په پوهېدو کې مې د Matilda Colarossi له انګریزي ژباړې کار اخیستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عسکر

موږ داسې ښکارو
لکه د مني پر وخت
پر څانګو باندې
د ونو پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## soldati

Si sta come
d'autunno
sugli alberi
le foglie

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پول ایلېوار Paul Eluard

۱۸۹۵ – ۱۹۵۲



اوژن ګرندل (**Eugène Grindel**) چې د فرانسې په ادبیاتو کې په پرل ایلېوار مشهور دی لومړی له دادایسم (Dadaisme) سره یو ځای شو او بیا د سورریالسم (Surréalisme) د مکتب یو خورا فعال غړی شو. د فرانسې د کمونست ګوند په څنګ کې یې یو نوی ادبي خوزښت را منځ ته کړ.

د نورو سورریالستانو په څېر د ژبې په اوتوماتیکې کارونې اکتفا نه کوي، هڅه کوي چې د کلماتو او انځورونو تر منځ هغه پټه اړیکه جوته کړي چې ساده منطق یې نه شي موندلای. دی وایي «ځمکه د مالټې غوندې شنه ده». د ده په وینا، شاعر ته، هغه چا ته چې د لیدلو سترګې لري، هر څه شوني دي. چې د فکر له ټولو محدودیتونو ځان خلاص کړو نو مطلقې ښکلا ته رسېدای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اسماني رنګه څمکه

دا څمکه شنه ده، اسماني شنه ده
لکه مالته ده
غلطي نه شته
توري هېڅکله دروغجن نه دی
هغوی نور تاسې
لره سندرې
راوړلای نه شي
اوس دې مچکې
خپل غبر کړي پورته
سره دې یو کړي
جنون او مینه
د هغې خوله هم
د لاس چله ده
د هغې ختې
ته وا برېندېه
مهرباني ده
موچی زرغونې
لکه د ګلو
سره غوړېږي
سهار پر غاړه راځړولی
د څو کړکیو رنګین امېل دی
وزرې زانګي
په پاڼو پورې
له تاسره دي
ښادی لمرینې
دا څومره لمر چې
پر څمکه خپور دی
ستا د ښکلاوو
لارې پرې فرش دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## La terre est bleue

La terre est bleue comme une orange
Jamais une erreur les mots ne mentent pas
Ils ne vous donnent plus à chanter
Au tour des baisers de s'entendre
Les fous et les amours
Elle sa bouche d'alliance
Tous les secrets tous les sourires
Et quels vêtements d'indulgence
À la croire toute nue.
Les guêpes fleurissent vert
L'aube se passe autour du cou
Un collier de fenêtres
Des ailes couvrent les feuilles
Tu as toutes les joies solaires
Tout le soleil sur la terre
Sur les chemins de ta beauté

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ازادي[5]

د مکتب پر کتابچو مې،
پر مېزونو او په ونو،
پر رېګونو او پر واورو
باندې ستا نوم لیکمه
پر ټولو پاڼو چې مې لوستې،
پر سپینو پاڼو او پر تېرو،
پر ایرو، وینو، کاغذونو
باندې ستا نوم لیکمه
پر دې زرینو انځورونو،
د جنګیالیو پر ټوپکو،
د واکمنانو پر خولونو
باندې ستا نوم لیکمه
پر ځنګلونو او دښتونو،
په چینارونو کې پر ځالو،
د کوچني والي پر انګیو
باندې ستا نوم لیکمه
د تورې شومې پر ښکلاوو،
د رڼا ورځ پر شتمنیو،
د کال پر میاشتو، پر فصلونو
باندې ستا نوم لیکمه
هسک کې د ورېځو پر ریتاړو،
پر اوبړن لمر غوندې ډنډونو،
د کارېزه پر سپینو وړانګو
باندې ستا نوم لیکمه
د سباوون پر نسیمونو،
پر بېړیو، دریابونو،
پر دې مستو دنګو غرونو

---

5 اېلبوار دا شعر هغه مهال لیکلی چې پاریس د نازي المان له لوري اشغال شوی و. د شعر کمال په دې کې دی چې د نازیانو د سانسور ډلې چې د فرانسې ټول مطبوعات په دقت سره کنټرولول داسې فکر وکړ چې ګوندې دا هم یو ساده د مینې شعر دی او د پاریس په یوه مهمه ورځپانه کې یې د چاپ اجازه ورکړه.

د شعر ژباړه د پاریس د ختیزو ژبو او مدنیتونو د ملي انستستوت د پښتو څانګې د تدریس په چوکاټ کې شوې ده. ښاغلي ژولین ماش (Julien Mache) په کې ونډه اخیستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې ستا نوم لیکمه
د سپینو وریځو پر څڅونو،
د ترمې تالندې خولو کې
د بې مزې باران پر څاڅکو
باندې ستا نوم لیکمه
پر ناڅاپي شاني هېندارو،
پر منتظرو پستو شونډو،
لا د سکوت پر هسکو څوکو
باندې ستا نوم لیکمه
په خپلې رنګې سرپنا کې،
پر نړېدلو کلاګانو،
د خواشینۍ پر دېوالونو
باندې ستا نوم لیکمه
پر دې بې شوقه بېلتونونو،
پر لوڅ لغړ یوازې والي،
د مرګ پر لوري پر پوړیو
باندې ستا نوم لیکمه
د رنځورۍ پر ختمېدلو،
د خطرو پر ورکېدلو،
پر دې هېرجنو امېدونو
باندې ستا نوم لیکمه
د یوه تش ټکي په مرسته،
له سره ژوند شرو کومه
زه یې پیدا کړم ستا موندو ته،
ستا د نامه و اخیستو ته:
ازادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Liberté

Sur mes cahiers d'écolier
Sur mon pupitre et les arbres
Sur le sable sur la neige
J'écris ton nom

Sur les pages lues
Sur toutes les pages blanches
Pierre sang papier ou cendre
J'écris ton nom

Sur les images dorées
Sur les armes des guerriers
Sur la couronne des rois
J'écris ton nom

Sur la jungle et le désert
Sur les nids sur les genêts
Sur l'écho de mon enfance
J'écris ton nom

Sur les merveilles des nuits
Sur le pain blanc des journées
Sur les saisons fiancées
J'écris ton nom
Sur tous mes chiffons d'azur
Sur l'étang soleil moisi
Sur le lac lune vivante
J'écris ton nom

Sur les champs sur l'horizon

(c) ketabton.com: The Digital Library

Sur les ailes des oiseaux
Et sur le moulin des ombres
J'écris ton nom

Sur chaque bouffée d'aurore
Sur la mer sur les bateaux
Sur la montagne démente
J'écris ton nom

Sur la mousse des nuages
Sur les sueurs de l'orage
Sur la pluie épaisse et fade
J'écris ton nom

Sur les formes scintillantes
Sur les cloches des couleurs
Sur la vérité physique
J'écris ton nom Sur les sentiers éveillés
Sur les routes déployées
Sur les places qui débordent
J'écris ton nom

Sur la lampe qui s'allume
Sur la lampe qui s'éteint
Sur mes raisons réunies
J'écris ton nom

Sur le fruit coupé en deux
Du miroir et de ma chambre
Sur mon lit coquille vide
J'écris ton nom

(c) ketabton.com: The Digital Library

Sur mon chien gourmand et tendre
Sur ses oreilles dressées
Sur sa patte maladroite
J'écris ton nom

Sur le tremplin de ma porte
Sur les objets familiers
Sur le flot du feu béni
J'écris ton nom

Sur toute chair accordée
Sur le front de mes amis
Sur chaque main qui se tend
J'écris ton nom

Sur la vitre des surprises
Sur les lèvres attendries
Bien au-dessus du silence
J'écris ton nom

Sur mes refuges détruits
Sur mes phares écroulés
Sur les murs de mon ennui
J'écris ton nom

Sur l'absence sans désir
Sur la solitude nue
Sur les marches de la mort
J'écris ton nom

Sur la santé revenue
Sur le risque disparu

(c) ketabton.com: The Digital Library

Sur l'espoir sans souvenir
J'écris ton nom

Et par le pouvoir d'un mot
Je recommence ma vie
Je suis né pour te connaître
Pour te nommer
LIBERTE

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخوو باشو - Matsuu Basho

۱۶۴۴ – ۱۶۹۴



جاپانی شاعر دی چې د هایکو[6] له څلورو سترو استادانو دی (باشو Bashō ، بوسون Buson ، ایسا Issa او شیکي Shki ).

اصل نوم يې ماڅوو کينساکو و **Matsuo Kinsaku.**

**باشو د يو نوي سبک بنسټ ايښی چې په څلورو ټکو کې خلاصه کيږي:**

- سابي ( *sabi*) د ساده‌ګۍ لټون او دا درک چې وخت هر څه بدلوي،
- شيوري ( *shiori*) د شعر هغه تداعي شوي مفاهيم دي چې په واضح ډول نه بيانېږي،
- هوسومي ( *hosomi*) د ساده او خوارو شيانو سره مينه او د ښکلا موندل
- کارومي ( *karumi*) طنز چې جديت او دروندوالی راکموي.

6 شعرونه د فرانسوي ژباړې له مخې پښتو شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوړ ډنډ
يوه چونګښه ټوپ وهي
اوبه پرق کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له تازه هوا
ځان ته جونګړه جوړوم
پرېشاني مې وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځیمځار په غرږ کې
څه نه شته چې دې پوه کړي
سا یې خېژي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مني کې پر دې لاره
تياره خپرېږي
زه يوازې روان يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوسف بدروس

۱۹۰۹ – ۱۹۸۷



مصری شاعر او موسیقی غږوونکی[7]

7 شعر د فريد الاطرش د يوې سندرې له مخې له عربي څخه ژباړل شوی. د عربي متن په پوهېدو کې راسره ښاغلي الله‌نور سېلاب مرسته کړې.

انځور هم د فريد الاطرش دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هغې په خوا کې یو درنګ

د هغې په خوا کې یو درنګ
د ژوندون خوږه ارزو ده
زړه نه هېر د ژړا چل شي
لا هم مینه کې ځورېږي
ته نو ولې غم ته ګورې
چې خوښۍ دربانديې اوري
لنډ ساعت دی ژر یې خپل کړه
لا د ګل تر عمره کم دی
دغه وخت غنیمت بوله
درد او غم دې دواړه هېر کړه
د ښمني او ناځواني دي
د رنځونو مورګۍ دي
که چا هېر کړې ژر یې هېرکړه
د جفا پروا یې مه کړه
یوه ځي، بله به راشي
ستا زړګی به بیا مشغول کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساعه بقرب الحبيب

ساعة بقرب الحبيب
أحلى أمل في الحياة
ينسى الفؤاد النحيب
ويشكي حبه وهواه
ساعة ... ساعة
ساعة بقرب الحبيب

ليه تفكر في الهموم 0
انت في ساعة النعيم
اغتنم فرصة صفاك
وانسى همك وقساه
وان كان شقاك من الغرام
من الجفا والخصام
اللي نسيك انساه
ولا يهمك جفاه
ياما غيره رح تلقاه
وتهنّي قلبك معاه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شارلوت برونټې – Charlotte Bronte

۱۸۱۶ – ۱۸۵۵



انګلیسۍ شاعره او لیکواله چې که څه هم له غریبې کورنۍ وه، د کمبریج د پوهنتون تر کچې یې زده کړې وکړې. په ماشومتوب کې د مور او دوو خویندو له مړینې او د ژوند له نورو ستونزو سره مخ شوه خو بیا یې هم په انګلیسي ادبیاتو کې د نړۍ په کچه شهرت وموند. د هغې ناول «جېن آیر» (Jane Eyre) د نړۍ په کلاسیکو آثارو کې شمېرل کېږي او څو واري د سینما پر پرده هم راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جدايي

ژراګانې په کار نه دي
که څه هم واړه ښېلېږو، رغښت نه شته
داسې څه شته چې يو بل سره په زړه کې
پرې يادونه ساتل کېږي
داسې څه شته چې جونګړه بلل کېږي
چې په خپلو خيالونو يې تل پالو
په جرآت او په مهرانه دې دنيا ته
وايي وېې کړه چې څومره بد کواى شې
پرې به نه ږدو چې د هغې لېونتوب مو زړه غمجن کړي
موږ به دې لېونوبو ته چې راځي، هرکلی وايو
هره ورځ به زموږ کور ته
د خندا پر مخ ورخلاص وي
چې له هر ملګري، هر وروره جلا شو
چې ترې ولاړ شو، لېرې لېرې.
يو او بل به مو په ياد وي
لا تر وړاندې هم لږ غوره
تر موږ پورته چې د وياړ څه نخښې شته دي
يامو پښو لاندې چې څومره ښايست ښکاري
موږ به خپلو مينانو سره يو شو
او تر مرګه به پرې ګران يو
په ماښام کې که قضا نه
ګوښې ناست وو د اور خوا ته
نو يو زړه چې بل کوم زړه ته نېږدې کېږي
د سندرو هر څواب به وي سندره
هغه ولونه چې زنځير کې مو بند ساتي، ها به مات کړو
د ادم د بچي لاس دی چې بندونه يې جوړ کړي
هغه ځاى کې مو بند ساتي
چې هر يو په کې ډارېږو
نو ژړا هېڅ په کار نه ده
روح مو ټول له مينې ډک کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې خبره کې هېڅ کله شک و نه کړئ
چې سبا د نن هر غم ته سوکالي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Parting

THERE'S no use in weeping,
Though we are condemned to part:
There's such a thing as keeping
A remembrance in one's heart:
There's such a thing as dwelling
On the thought ourselves have nurs'd,
And with scorn and courage telling
The world to do its worst.
We'll not let its follies grieve us,
We'll just take them as they come;
And then every day will leave us
A merry laugh for home.
When we've left each friend and brother,
When we're parted wide and far,
We will think of one another,
As even better than we are.
Every glorious sight above us,
Every pleasant sight beneath,
We'll connect with those that love us,
Whom we truly love till death !
In the evening, when we're sitting
By the fire perchance alone,
Then shall heart with warm heart meeting,
Give responsive tone for tone.
We can burst the bonds which chain us,
Which cold human hands have wrought ,
And where none shall dare restrain us
We can meet again, in thought.
So there's no use in weeping,

(c) ketabton.com: The Digital Library

Bear a cheerful spirit still;
Never doubt that Fate is keeping
Future good for present ill !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Charles Beaudelaire – شارل بودلېر

۱۸۶۷- ۱۸۲۱



مخاطب سره نښلوي

د نولسمې پېړۍ په فرانسوي ادبياتو کې شارل بودلېر یو ځانګړی مقام لري. د شعرونو ټولګه یې «د بدۍ ګلونه» (Les fleurs du mal) د فرانسوي ژبې خورا مهم اثر بلل کېږي. همدا راز «کوچنې، نثري شعرونه» (Petits Poèmes en Prose) یې هم ځانګړی مقام لري. بودلېر د ادګار الن پو په ګډون د انګلیسي ژبې ځینې مهم اثار هم فرانسوي ته ژباړلي دي. د خپل وخت په ادبي بحثونو کې بودلېر شعر له اخلاقو جدا بولي او یوازې ښکلا ته یې ځانګړی کوي. دی هڅه کوي چې د «ښکلا» او «بدۍ» تر منځ شته نری اړیکه جوته کړي او ضمناً هڅه کوي د لیکوال او لوستونکي تر منځ هغه نری تار هم وښوروي چې اثر له

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هر چېرې چې وي، له دې دنيا دباندې

ژوند يو روغتون دی چې هر ناروغه په کې د کټ بدلولو غوښتنې
لېونی کړی. دا يو غواړي چې بخارۍ ته نږدې وکړېږي، دا بل گومان کوي چې د کړکۍ څنګ ته به ژر روغ شي.
داسې راته ښکاري چې زه به تل هغه ځای کې ښه واوسم چې په کې نه يم او دا د کډې کولو خبره هغه موضوع ده چې زه پرې پرله پسې له خپلې اروا سره بحث کوم.
»وايه زما اروا، خوارې، کنګل شوې اروا، څه فکر کوې، که په «ليزبون کې اوسېدلای؟ هوا به په کې توده وي، ته به په کې د کربوړي غوندې مسته ګرزې. دا ښار د اوبو پر غاړه دی، وايي چې ټول له مرمرو جوړ شوی او خلک يې له بوټو داسې کرکه لري چې ټولې ونې له بېخه راوباسي. دا ستا په طبعه برابره منظره ده، يوه منظره چې له رڼا او ډبرې جوړه شوې او دانعکاس له پآره يې اوبه هم شته.
زما اروا ځواب نه راکوي.
ښه نو چې د خوزښت له ننداري سره، استراحت دې خوښېږي، راځه -چې ولاړ شو، په هالنډ کې، د خوشاليو پر خاوره، واړوو. و دې شي چې په دغې سيمې کې به دې ښه سات تېر شي؛ انځور خو دې يې په موزيمونو کې ډېر ځله خوښ کړی. په روتردام کې څه وايې؟ ستا خو د کورونو لاندې د درېدلو کيښتيو د بادبان د ډاګو ځنګلونه ښه راځي.
اروا مې لا ګونګه ده.
باتاويا به در باندې ښه لګي. هلته به له استوايي ښکلا سره يو شوی د اروپا روح و مومو.
يو ټکی هم نه وايي. زما اروا خو به مړه شوې نه وي؟
ښه نو ته دومره سره ښکېل شوې يې چې يوازې خپل درد سره خوشاله يې؟ که داسې وي نو راځه هغو هېوادونو ته ورشو چې د مرګ نمونه ده. پيدا مې کړه، زما خوارې اروا! راځه چې کډه وتړو، تورنيو ته ولاړ شو. را څه چې نور هم لېرې ولاړ شو، د بالتيک وروستۍ څنډې ته. که وشي تر دې هم له ژونده لېرې، قطب کې به مېشت شو. دلته لمر څنګزن له ځمکې سره لګي، شپې او ورځې دومره ورو يوه په بلې پسې راځي چې بدلون له منځه وړي او يوشان والی، چې د نشتوالي نيمايي ده، زياتوي. دلته به په تيارو کې ښه ډېر ولامبو او لاهم، زموږ د سات تېرۍ له پاره به قطبي رڼې ځې کله کله راته د رڼا ګلابي ګېډۍ راوړي، لکه د دوزخ د اورلوبې انعکاس.
اخر مې اروا ګړز وهي، په ډېر حکمت را ته چغې کړي : «هر چېرې چې وي! هر چېرې چې وي! خو چې له دې دنيا دباندې وي! »

(له منثورو شعرونو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## N'importe où hors du monde

Cette vie est un hôpital où chaque malade est possédé du désir de changer de lit. Celui-ci voudrait souffrir en face du poêle, et celui-là croit qu'il guérirait à côté de la fenêtre.

Il me semble que je serais toujours bien là où je ne suis pas, et cette question de déménagement en est une que je discute sans cesse avec mon âme.

« Dis-moi mon âme, pauvre âme refroidie, que penserais-tu d'habiter Lisbonne ? Il doit y faire chaud et tu t'y ragaillardirais comme un lézard. Cette ville est au bord de l'eau ; on dit qu'elle est bâtie en marbre et que le peuple y a une telle haine du végétal, qu'il arrache tous les arbres. Voilà un paysage fait selon ton goût, un paysage fait avec la lumière et le minéral et le liquide pour les réfléchir ! »

Mon âme ne répond pas.

« Puisque tu aimes tant le repos, avec le spectacle du mouvement, veux-tu venir habiter la Hollande, cette terre béatifiante ? Peut-être te divertiras-tu dans cette contrée dont tu as souvent admiré l'image dans les musées. Que penserais-tu de Rotterdam, toi qui aimes les forêts de mats et les navires amarrés au pied des maisons. »

Mon âme reste muette.

« Batavia te sourirait peut-être davantage, nous y trouverions l'esprit de l'Europe marié à la beauté tropicale. »

Pas un mot. – Mon âme serait-elle morte ?

« En es-tu donc venue à ce point d'engourdissement que tu ne te plaises que dans ton mal ? S'il en est ainsi, fuyons vers les pays qui sont les analogies de la Mort. – Je tiens notre affaire, pauvre âme ! nous ferons nos malles pour Bornéo. Allons plus loin encore, à l'extrême bout de la Baltique ; encore plus loin de la vie, si c'est possible ; installons-nous au pôle. Là le soleil ne frise qu'obliquement la terre, et les lentes alternatives de la lumière et de la nuit suppriment la variété et augmentent la monotonie, cette moitié du néant... Là, nous pourrons prendre de longs bains de ténèbres cependant que, pour nous divertir les aurores boréales nous enverrons de temps en temps leurs gerbes roses, comme des reflets d'un feu d'artifice de l'enfer ! »

Enfin, mon âme fait explosion et sagement elle me crie : « N'importe où ! n'importe où ! pourvu que ce soit hors de ce monde ! »

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هينداره

يو ډېر بد شکله سړي هينداره کتله.

- ولې ځان په هينداره کې ګورې، ته خو چې هر وار ځان وينې کرکه دې راځي؟

بد شکله سړي را ته وويل: «جنابه، د ۱۷۸۹ کال تلپاتې اصول وايي چې ټول انسانان په حقونو کې سره برابر دي نو زه هم حق لرم چې هينداره وګورم. که خوند ترې اخلم او که کرکه مې ترې کېږي دا زما له شعور سره تړلې ده.»

د عقل لم مخې زه پرحقه وم خو د قانون له مخې هغه هم پر ناحقه نه و.

(له منثورو شعرونو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Le miroir

Un homme épouvantable entre et se regarde dans la glace.

« Pourquoi vous regardez-vous au miroir, puisque vous ne pouvez vous y voirqu'avec déplaisir ? »

L'homme épouvantable me répond :

« — Monsieur, d'après les immortels principes de 89, tous les hommes sont égaux en droits ; donc je possède le droit de me mirer ; avec plaisir ou déplaisir, cela ne regarde que ma conscience. »

Au nom du bon sens, j'avais sans doute raison ; mais, au point de vue de la loi, il n'avait pas tort.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټوله

نن شیطان په شنه سهار کې
پاس، زما خونې ته راغی
چې بې پامه مې راګیر کړي
را ته وایي: «راته وایه
په دې ټولو ښکلاګانو
کې چې شته یې په وجود کې
په دې تورو، ګلابي واړه شیانو
کې چې تن یې ترېنه جوړ دی
کوم یې خوږ دی؟»
زما روحه په ځواب کې
تا هغه لعین ته ووې:
«هغه واړه خوږلني ده
په کې هېڅ هم داسې نه شته
یو تر بله چې شي غوره
چې هر څه یې را ته ښه دي
نو به څه وایم چې څه مې په کې خوښ دي
د سهار په دود مې سترګې پرې رڼېږي
لکه شپه په کې هوسا یم
دا څه ښکلې همغږي ده
چې بدن یې ترېنه جوړ دی
دلته پوهه ده ناتوانه
چې راګونه سره بېل کړي
رباني غوندې بدلون دی
چې حواس مې یې یو کړي
چې سا اخلې ساز یې اورم
ښکلی غږ یې دی د عطرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## TOUT ENTIÈRE

Le Démon, dans ma chambre haute,
Ce matin est venu me voir,
Et, tâchant à me prendre en faute,
Me dit : « Je voudrais bien savoir,

Parmi toutes les belles choses
Dont est fait son enchantement,
Parmi les objets noirs ou roses
Qui composent son corps charmant,

Quel est le plus doux. » — Ô mon âme !
Tu répondis à l'Abhorré :
« Puisqu'en Elle tout est dictame,
Rien ne peut être préféré.

Lorsque tout me ravit, j'ignore
Si quelque chose me séduit.
Elle éblouit comme l'Aurore
Et console comme la Nuit ;

Et l'harmonie est trop exquise,
Qui gouverne tout son beau corps,
Pour que l'impuissante analyse
En note les nombreux accords.

Ô métamorphose mystique
De tous mes sens fondus en un !
Son haleine fait la musique,
Comme sa voix fait le parfum ! »

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Louise Angélique Bertin – لويز-انژېليک بېرتن

۱۸۰۵ - ۱۸۶۳



لويز انژېليک بېرتن په ماشومتوب کې د پوليو ناروغۍ له امله معيوبه شوه. پلار يې، لويي فرانسوا بېرتن ( Louis-François Bertin - ۱۸۴۱ م) چې د «بحثونو ژورنال» په نامه د يوې خپرونې مسوول و، د اخبار د بندېدو له امله وزګار شو او د خپلې لور روزنې ته يې وخت ورکړ. مور يې پيانو ورزده کړه. په دې توګه لوييز د ادب او هنر په فضا کې وده وکړه. هغه مهال معيوبو ښځو ته چندان ښه نظر نه کېده. کره کتونکو يې اثارو ته د معلوليت د تلافي په سترګه کتل خو مشهور کمپوزيتور، برليوز Berlioz يې کار «نارينه، غښتلی او نوی» بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مرګ او ژوند

که مرګي پسې روان یو، بیا نو ولې پر دې لارو
او دې بوټو ښکلي ښکلي ګلان برېښي
چې په مني پاڼې پاڼې په هوا شي
نو بیا ولې پسې اوښکې ځي له سترګو؟
او که ژوند زموږ هدف وي نو بیا ولې پر دې لارو
شنه واښه له کاڼو ډک دي او ګلان اغزو پوښلي
چې په تلو تلو یې په اوښکو باندې مینځو
او د وینو رنګ پرې شیندو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## La Mort et la Vie

Si la mort est le but, pourquoi donc sur les routes
Est-il dans les buissons de si charmantes fleurs ?
Et lorsqu'au vent d'automne elles s'envolent toutes,
Pourquoi les voir partir d'un oeil momifié de pleurs ?

Si la vie est le but, pourquoi donc sur les routes
Tant de pierres dans l'herbe et d'épines aux fleurs,
Que, pendant le voyage, hélas ! nous devons toutes
Tacher de notre sang et mouiller de nos pleurs ?

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Jacques Prevert – ژاک پرېوېر

۱۹۰۰–۱۹۷۷



فرانسوی شاعر، لیکوال، سناریست، ډرامه لیکونکی او نقاش دی چې د شعر ځانګړې ژبه او پر کلماتو د لوبو کولو مهارت یې ډېر شعرونه د فرانسوي ژبې تدریسي کتابونو ته ننه‌ایستي دي.

کورنۍ یې غریبه وه نو ښوونځی یې تر لومړنیو زده کړو وروسته پرېښود او د ژوند له پاره یې کوچني کارونه پیل کړل. د عسکري خدمت پر مهال له لیکوالو او شاعرانو ایف تانګي (Yves Tanguy) او مارسل دوهامل (Marcel Duhamel) سره اشنا شو چې بیا یې د هغوی په مرسته د پاریس ادبي کړیو ته لار ومونده او د سورریالیسم (Surrealisme) د ادبي مکتب غړی شو. د عمر تر پایه ژمن لیکوال پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سهار ناری[8]

په پياله کې يې قهوه واچوله
د قهوې په پياله کې يې شودې واچولې
د شودو په قهوې کې يې بوره واچوله
کوچنۍ کاشوغه يې په کې
و ښوروله
د شودو قهوه يې و څښله
بيا يې پياله کېښوده.
ما سره يې خبرې نه کولې.
يو سګرټ يې ولګاوه
له لوګي نه يې
دايرې جوړې کړې،
ايرې يې
په ايرنۍ کې واچولې.
ما ته يې هېڅ و نه ويل
ما ته يې هېڅ و نه کتل.
جګ شو،
خولۍ يې
په سر کړه،
بارانی يې واغوست
ځکه چې باران اورېده.
او ولاړ
د باران لاندې.
بې له دې چې يوه خبره وکړي
بې له دې چې ما ته وګوري.
ما خپل سر
په لاس کې ونيو
او ومې ژړل

[8] د شعر ژباړه د پاريس د ختيزو ژبو او مدنيتونو د ملي انستيتوت د پښتو څانګې د تدريس په چوکاټ کې شوې ده. آغلې بريژيت باستين (Brigitte Bastien) په کې ونډه اخيستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Déjeuner du matin

Il a mis le café
Dans la tasse
Il a mis le lait
Dans la tasse de café
Il a mis le sucre
Dans le café au lait
Avec la petite cuiller
Il a tourné
Il a bu le café au lait
Et il a reposé la tasse
Sans me parler
Il a allumé
Une cigarette
Il a fait des ronds
Avec la fumée
Il a mis les cendres
Dans le cendrier
Sans me parler
Sans me regarder
Il s'est levé
Il a mis
Son chapeau sur sa tête
Il a mis
Son manteau de pluie
Parce qu'il pleuvait
Et il est parti
Sous la pluie
Sans une parole
Sans me regarder
Et moi j'ai pris

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ma tête dans mes mains

Et j'ai pleuré.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Edgar Allan Poe – ادګار آلن پو

۱۸۰۹ – ۱۸۴۹



امریکايي شاعر، لیکوال، ناولیست، د لنډو کیسو لیکونکی، نقاد او خپرندوی دی چې د لنډې کیسې او د پولیسي کیسې په برخه کې ورته د استاد په سترګه کتل کېږي. ده همدا راز د فانتاستیک داستان په برخه کې بریالۍ تجربې کړې دي.

د نولسمې پېړۍ په پیل کې، امریکا تر ډېره پر اروپايي ادبیاتو تکیه کوله. ادګار الن پو ته د امریکا د ملي ادبیاتو د سرلاري په سترګه هم کتل کېدای شي. د نقد په تیورۍ کې یې ډېر تمرکز د لیکنې پر کیفیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په خوب کې خوب

دا مچکه دې تندي باندې درواخله
چې زموږ لارې بېلېږي
دا يوه له ما نه واوره
نه، ته نه وې خطا شوې چې ويل دې
»ستا ژوندون هسې يو خوب و«.
دا چې هيلې په هوا شوې
يوه شپه که يوه ورځ کې،
په يو خيال کې يا بې هېڅه،
دا خو ده چې هغه لاړې.
څه چې يو او څه چې ښکارو
بس په خوب کې يو بل خوب دی.
موج ځپلي ساحل باندې
د غوغا منځ کې ولاړ يم
او په لاس کې مې نيولې
د زري شګو نينکې.
څومره لږې! لا زما د ګوتو وت کې
ښکته درومي او دوړېږي.
او زه ژاړمه، زه ژاړم
لويه خدايه ولې موټی
ټينګولای باندې نه شم
د بې رحمه موج له واره
لويه خدايه د دې شګو
تش يوه دانه ژغورلای ولې نه شم؟
څه چې يو، او څه چې ښکارو
ګوندې خوب کې يو بل خوب يو؟

## A Dream Within a Dream

Take this kiss upon the brow!

And, in parting from you now,

(c) ketabton.com: The Digital Library

Thus much let me avow —
You are not wrong, who deem
That my days have been a dream;
Yet if hope has flown away
In a night, or in a day,
In a vision, or in none,
Is it therefore the less *gone*?
*All* that we see or seem
Is but a dream within a dream.

I stand amid the roar
Of a surf-tormented shore,
And I hold within my hand
Grains of the golden sand —
How few! yet how they creep
Through my fingers to the deep,
While I weep — while I weep!
O God! Can I not grasp
Them with a tighter clasp?
O God! can I not save
*One* from the pitiless wave?
Is *all* that we see or seem
But a dream within a dream?

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الکساندر پوشکین - Alexandre Pouchkine

۱۸۳۸۷- ۱۷۹۹



روسي ليکوال او شاعر دی چې کله ورته د روسي ژبې مخترع هم ويل کېږي. ده وکړای شول چې روسي ادبيات د سرکاري مکاتباتو او مذهبي ليکنو له وچ طرز څخه راوباسي او د وينا ژبې ته يې ورنېږدې کړي. د پوشکين بل امتياز دا دی چې روسي ژبه يې د نورو اروپايي ژبو له تاثير څخه را و ايستله، د نورو هېوادونو له غوره اديبانو يې الهام واخيست خو د هېڅ يوه پيروي يې ونه کړه.

ساده‌ګي، دقت او نزاکت د پوشکين د سبک ځانګړنې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## منی[9]

دا غمجنې شان شېبې او
ستا د سترګو له ښکلا چې رخصتېږم
دا وختونه مې خوښېږي.
طبیعت په تشریفاتو خاورې کېږي
ځنګل سرې او طلایي جامې اغوستې
او ورمې داسې شغېږي
لکه څوک چې په ارامه سا اخلي.
لړې ګرزي پر اسمان یې
د څپو څادر خپور کړی،
د لمر وړانګې هم تار تار دي.
د هوا دا سرې منډې
لا له ورایه را ته ګواښ کړي
چې سپین ژمی راروان دی!

[99] پښتو ژباړه د روسي متن پر بنسټ شوې ده خو د روسي ژبې ځانګړتیاوو ته د رسېدو له پاره مې له فرانسوي ژباړې هم مرسته اخیستې ده.دا متن د «منی» تر عمومي سرلیک لاندې په څو پاړکو کې د یو اوږد شعر یو پاړکی دی. لومړی ځل مې په ۱۳۵۵ هـ ل. کال کې د کابل پولیتخنیک د روسي ژبې په صنف کې لوستی او زده کړی و. فرانسوي ژباړه د اېفیم اېتکیند (Efim Etkind) تر مشرۍ لاندې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Осень

Унылая пора! очей очарованье!
Приятна мне твоя прощальная краса —
Люблю я пышное природы увяданье,
В багрец и в золото одетые леса,
В их сенях ветра шум и свежее дыханье,
И мглой волнистою покрыты небеса,
И редкий солнца луч, и первые морозы,
И отдаленные седой зимы угрозы.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هارولډ پينټر – Harold Pinter

۱۹۳۰ – ۲۰۰۸



انګرېز ليکوال، شاعر، سناريست، ډرامه ليکونکی او کار ګردان دی.

په ۲۰۰۵ کال کې يې د عراق د جګړې پر ضد دريځ ونيو او په هغه جنګ کې يې د انګلستان د ګډون مخالفت وکړ.

په انګلستان کې يې ګڼې جايزې ګټلې دي او په وارو وارو ستايل شوی دی. په ۲۰۰۰ کال کې د هغو ګوتو په شمار بهرنيو ليکوالو څخه و چې اثار يې د فرانسې د کومېډي د ننداړو په نوملړ کې شامل شو. په ۲۰۰۵ کال کې يې د ادبياتو د نوبل جايزه وګټله. د نوبل کوميټې د ده په اړه ويلي وو:

«په خپلو اثارو کې يې هغه ژوره کنده ومونده له چې تر ګپ شپ لاندې ده او په هغې کې يې د اختناق بندو خونو ته لار پيدا کړه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاص اړیکي

بمونه چوي
پښې تويږي
سرونه لوېږي

لاسونه غورځي
پښې تويږي
رڼا مړه کېږي

سرونه لوېږي
پښې تويږي
شهوت مستېږي

مړي شول خاوري
ډېوې مړې کېږي
ککرې اوره شوې

يو سړی بل ته په ګونډو کېږي
شهوت يې روي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Special Relationship

The bombs go off
The legs go off
The heads go off

The arms go off
The feet go off
The light goes out

The heads go off
The legs go off
The lust is up

The dead are dirt
The lights go out
The dead are dust

A man bows down before another man
And sucks his lust

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دهوا حالات

د ورځې پیل کې
به اسمان وریځ وي
ساړه به ډېر وي
د غرمې خوا ته
به د لمر ځرک شي
ماسپښینی به
ښایسته تود وي
چې ماښامی شي
سپوږمۍ راخېژي
شپه به رڼه وي
خو باد به لګي
لږ څه په زوره
چې شومه دم شي
باد به شي غلی
نور به هېڅ نه وي
بس نو همدا به
وروستۍ شېبې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Weather Forecast

The day will get off to a cloudy start.
It will be quite chilly
But as the day progresses
The sun will come out
And the afternoon will be dry and warm.

In the evening the moon will shine
And be quite bright.
There will be, it has to be said,
A brisk wind
But it will die out by midnight.
Nothing further will happen.

This is the last forecast.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژان تاردیو - Jean Tardieu

۱۹۰۳ – ۱۹۹۵



فرانسوی لیکوال دی چې په خپل خلاقیت یې د فرانسې په ادبیاتو کې ځانګړی ځای موندلی دی. د شعر په اړه وایي :« هغه تلپاتې اندېښنه ده چې سړی اړباسي داسې څه ولیکي چې مانا ولري».

د ګویته او هولدرلین اشعار یې فرانسوي ته ژباړلي. په ۱۹۹۲ کې یې د فرانسې د اکاډیمۍ د شعر جایزه او په ۱۹۸۶ کې یې د فرانسې د ادیبانو د ټولنې جایزه ګټلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نشت ماشومه

-څه وايي؟

-څه نه وايي.

-څه کوي؟

-څه نه کوي

-په څه فکر کوي؟

-په څه فکر نه کوي.

-ولې څه نه وايي، څه نه کوي، په څه فکر نه کوي؟

-نه شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## La môme néant

Quoi qu'a dit ?

- A dit rin.

Quoi qu'a fait ?

- A fait rin.

A quoi qu'a pense ?

- A pense à rin.

Pourquoi qu'a dit rin ?

Pourquoi qu'a fait rin ?

Pourquoi qu'a pense à rin ?

- A' xiste pas.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Jeanine Teisson - ژانين تېسون

۱۹۳۸



فرانسوی شاعره او ليکواله ده چې تر دېرشو ډېر کتابونه (ناولونه، شعري ټولګې،...) يې چاپ شوې دي او په فرانسه کې يې ګڼې جايزې خپلې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سپوږمۍ

سپوږمۍ ځوږنده اسمان پورې نښتې
انسانان ورته واړه واړه ښکارېږي
پښې یې نه شته چې به غلو پسې ورځغلي
یا به ناڅي
لاس یې نه شته
چې په خوب کې ترهېدلی ماشوم واخلي
خو بس، برک، برک لاندې ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## La lune

La lune accrochée dans le ciel
Voit les humains tout petits.
Mais elle n'a pas de jambes
Pour courir derrière les voleurs,
Pas de bras pour serrer
L'enfant qui fait des cauchemars,
Pas de pieds pour danser.
Alors elle regarde, c'est tout.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Rabindranath Tagore - رابيندراناتهـ ټاګور

۱۹۴۱ – ۱۸۶۱



د هند مشهور شاعر، ليکوال، فيلسوف،نقاش، موسيقي پوه ملي مبارز دی چې د هند او په خاص ډول يې د بنګال پر ادبياتو ژور اغيز ښندلی دی.
په ۱۹۱۳ کې يې د ادبياتو د نوبل جايزه وګټله. د نوبل اکاډيمي په دې مناسبت ويلي وو چې دا جايزه ورته د هغو کم شمېر متنونو له پاره ورکړل شوه چې ايډياليستي اړخ لري او غربي لوستونکي ورته لاسرسی لري. په دې متنونو کې «ګيتانجلي» هم راغلی.
ټاګور په ختيځ کې خاص محبوبيت لري. په افغانستان کې يې استاد بېنوا او استاد خليلي ليکنې په خورا مهارت پښتو او دري ته ژباړلې دي. د هغه لنډه کيسه «کابلي‌والا» په افغانستان کې ډېره مشهوره ده. د لنډو کيسو يو کوچنی ټولګه يې د «سنګ پارس» تر سرليک لاندې ښاغلي زين الله منلي هم پښتو کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې فکر په کې بې ترهې وي او سرونه په کې لوړ وي
چې پوهه په کې وړیا وي
چې نړۍ په کې د کوچنیو کورسکیو په دېوالونو نه وي وېشل شوې
چې خبرې په کې د رښتیا له ژورو راخېژي
چې نه ستړي کیدونکي لاسونه په کې د کمال پر خوا غځېږي
چې د عقل رڼې ویالې په کې
د زړو عادتونو په وچ رېګزار کې ورکې نه وي
چې مغزو ته په کې ته په خپله
د همېشه پراخېدونکو فکرونو او عمل په لور لار ښیې
د ازادۍ په داسې یو جنت کې
ربه زما هېواد راویښ کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

Where the mind is without fear and the head is held high
Where knowledge is free
Where the world has not been broken up into fragments
By narrow domestic walls
Where words come out from the depth of truth
Where tireless striving stretches its arms towards perfection
Where the clear stream of reason has not lost its way
Into the dreary desert sand of dead habit
Where the mind is led forward by thee
Into ever-widening thought and action
Into that heaven of freedom, my Father, let my country awake.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الفرېډ لارډ ټېنيسن - Afred Lord Tennyso

۱۸۰۹-۱۸۹۲



د انګلستان د نولسمې پېړۍ مخکښ شاعر چې له ۱۸۵۰ څخه د مړينې تر وخته د انګلستان Poet Laureate (ملک الشعراء) هم پاتې شوی دی. ډېرې وېناوې يې په انګليسې کې اوس د متل په توګه کارول کېږي («ښه ده چې سړی په مينه کې بايلونکی وي، نه دا چې هېڅ مينه و نه کړي»، «پوهه راځي، خو هوښياري نه ځي»، «هڅه، لټون او موندل، خو پرته له شکايته»...)

لارډ ټېنيسن د خپلو ليکنو په بيا بيا سمولو کې نه ستړی کېدونکی و. کله يې چې په ۱۸۳۳ کې د اشعارو دويم کتاب د کره کتونکو له خوا و نه ستايل شو، بيا يې لس کاله څه خپاره نه کړل.

ملکه ويکتوريا يې له سختو مينه والو وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګورېت

پاس کمر یې په کږو لاسو نیولی
د لمر خوا ته پر بېکسه ځمکه باندې
شنه دنیا ترې نه چاپېره، دی ولاړ دی
ور نه لاندې ګونځې ګونځې سمندر په سینه ګرزي
دی د غره له دېواله نه ورته ګوري
او د ټکې غوندې لاندې راپریوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Eagle

He clasps the crag with crooked hands
Close to the sun in lonely lands
Ringed with the azure world he stands
The wrinkled sea beneath him crawls
He watches from his mountain walls
And like a thunderbolt he falls

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سید طیب جواد – Sayed Tayeb Jawad

۱۹۵۸



سید طیب جواد، افغان شاعر، لیکوال او سیاستوال دی چې په کندهار کې زیږیدلی، د کابل په استقلال لیسه کې او د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې یې زده‌کړې کړې دي. په ۱۹۸۰ کې یې، المان ته تر مهاجرت وروسته د مونستر له پوهنتون څخه ماستري واخیسته. طیب جواد په بېلابېلو هېوادونو کې د افغانستان سفیر و.
په دري شعر لیکي. شعر کې عموماً د نوو موضوعاتو له پاره د نوي اظهار په لټه کې دی.
اېروتیک اړخ یې د شاعرۍ یوه جوته ځانګړنه ده. د اسپانېې ګرینادا او د هغه ځای موسیقي او د غوایانو لوبه یې د ادبي علاقې ځانګړي توکي دي.
له اسپانوي شاعر، فدریکو ګارسیا لورکا سره ځانګړې هنري اړیکه پالي او د هغه یو شمېر شعرونه یې دري ته ژباړلي دي.
مهم ادبي اثر یې «آخرین فلامنکو در سمنگان» دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## واوره او اور

په عطرورينو وږمو کې
د خپل تن يخې واورې
ايسته کړه
خپل تن دې
زما د شونډو سکروټو ته
پرانيزه

پرېږده
چې زما د لاسونو لمر
پر هغو واورينو څوکو وځلېږي

پرېږده
چې زما د ژبې غړاندې لمبې
د شيرې پر توده څمکه
خپرې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## برف و آتش

در محضر باد
این برف سرد را
از سپیدی تن ات
به در آر.

بر
روی لبان مشتعل من
تن ات را
باز کن

بر آن برجستگی برف پوش
بمان
آفتاب دست مهربان من
بتابد.

بر آن گرم گاه شیره نوش
بمان
آتش زبان لغزان من
بدمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لمر خاته

د خرما لښتې،
ستا معطرې څڼې
د سپوږمۍ تر مات نظر لاندې
ستا پر نیم مخ لګېږي

واه څومره ښکلې!
پړمخې پرته.

ستا د شوخو ولیو پر سوچه وربښمو
زما مهربانې ګوتې
تکي په تکي
د ښیښو له بڅريو
دغه د مینې غزل جوړوي

لړزنده لاسونه مې ټول له وسواسه ډک دي
چې ستا پر ملا
د لمر راختل انځور کړي
ډار مې له دې دی
چې ته راویښه نه شې
چې ته را پا نه څېړې
او د سهار په پلمه
کلي ته ولاړه نه شې

ستا د ملا پر منځ
په دوو ګوتو
لمر پټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آفتاب برآمد

در زیر نگاه مبهوت ماه

شاخه های خرما
موهای معطرت
می وزد
بر نیمرخ صورت ات.

آه چه زیبا!
خوابیده به سینه.

با شور
بر دیبای دخترانه
شانه های بازیگوش ات
انگشتان خوش برخوردم
-واژه واژه-
این غزل عاشقانه را شیشه شانی می کند.

سراپا وسوسه اند
لرزان دستانم
تا بر کمرت
بر آمدن آفتاب را رسم کنند.
ترسم
بیدار نشوی
ترسم
-برخاسته-
آفتاب برآمد را بهانه
راهی روستایت شوی

برآید
میان کمرت
با دو انگشت
آفتاب را پنهان می کنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مړاوی بخمل

ته چې ترې ووتې
زما د یوازېتوب پالنګ
بې پایه پراخ شوی

ته چې ترې ووتې
زما د پالنګ د رېدیو سرتختي
مړاوې شوې ده
د خامتا پر روجایي
واوره اورېدلې.

ته چې ترې ووتې
له برنډې د سیتار نغمه تللې
شهنه او شهنایي
تر کړکۍ لاندې
پټ شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مخمل پژمرده

چون تو تن در کشیده ای
پهنایی بی انتها
یافته است
تخت تنهایی من.
چون تو تن در کشیده ای
پژمرده
سر تختی شقایق
باریده
برف کرباس
بر روجایی
چون تو تن درکشیده ای
رمیده از برنده
ترنُم سیتار.

خزیده زیر پنجره
هم شهنه هم شهنایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وروستی تیلی

بس دی،
فقط یو تیلی بس دی
هله، چې وېې لګوم
سترګې دې ووینم
شونډې دې ومومم

نور نو بیا
د همېشنۍ تیارې
پروا نه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آخرین پلته

بس است
فقط
یک پلته گوگرد
بس است

هَله بَل اش کنم
چشمانت را ببینم
لبانت را بیابم.

دگر
غم تاریکی دایمی را حتی ندارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې لارې مچکه

زما درې ګوتېزه مچکه
ستا د خولې له کونجه
ستا غاړې ته ښوی شوه
- چټکه –
ولاړه
د سینې وت ته
هلته شوه ټینګه.
په ګرمۍ روږدې
زما لاسونه
- په منډه منډه –
ستا د ورنونو تر منځ
هغه بې لارې
مچکه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بوسه بیراه

بوسه سه گوشه من
از کنج لب
بر گلویت لغزید
-چالاک-
گرفت
آنگاه
در سینه یِ چاک
جاگاه و پایگاه.
حالا
دستان گرمایاب من
-شتابناک-
می پالند
در میانِ پودین تنی لغزان
آن بوسه ها را
آن بوسه های بیراه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نستعلیق

لا هم تر اوسه، لا هم تر اوسه
زر، زر، نیازونه، لکه گلونه
ځنګ پر ځنګ ناست دي
زما پر ژبه
تر څو چې لیک شي
ټکي په ټکي
ستا پر ها سپینې
د ګلو پاڼې
باندې په ښکلي
نستعلیق خط کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نستعلیق

هنوز هم، هنوز
هزار نیاز گلگون
نشسته
-پهلو به پهلو-
بر زبانِ روانِ من
تا نگاشته شوند
-واژه به واژه-
بر آن گلبرگ سپید
به خطِ خوشِ نستعلیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چانګ وو کين - Chang-Wou-Kien

۱۸۷۹ – ۱۹۳۱



چيني شاعر (انځور يې او په اړه يې نور مالومات لاس ته رانغلل)

فرانڅ توسن د شلمې پېړۍ فرانسوی ختيځ پوه دی چې د ختيځ د ادبياتو ډېرې نمونې يې ژباړلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وروستی چکر[10]

ما چې په لاس کې
سور غاټول درکړ
هاغه غاټول دې
خاورو کې پرېښود
ما کړ راپورته
اوس ببخي سپين و
دغې شېبې کې
زموږ پر مينه
واوره وه شوې

[10] ژباړه د ستر مستشرق فرانز توسن (Franz Toussain ) ۱۸۷۹ -۱۹۵۵ د اډاپت له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## کیښتۍ ښویېږي[11]

یو ارام سین دی، کیښتۍ ښویېږي
د سین پر غاړې، تر باغچې اخوا
راته ښکارېږي
هغه شنه غرونه، ها سپینې ورېځې

زما ملګرې، لاس یې اوبو کې، ده خوبوړې
کوچنی پتنګ یې پر ولې کښېناست
د وزرو رپ او لاړ په هوا شو

اوږده شېبه مې، سترګې پسې وې
هغه روان و د «چانګ-نان» غرو ته
چې دا پتنګ و، که هغه خوب وو
چې زما مینې، دلته لیدلو؟

[11] د فرانځ توسن فرانسوي ژباړې له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# Nazim Hikmet – ناظم حکمت

۱۹۰۱ – ۱۹۶۳




ناظم حکمت د شلمې پېړۍ یو مخکښ ترکي شاعر دی چې اشعار یې تر پنځوسو زیاتو ژبو ته ژباړل شوي دي. د ترکیې په هغو لومړیو شاعرانو کې راځي چې ازاد نظم ته یې مخه کړه. د ترکیې د انقلابي سازمانونو فعال غړی، حکمت خپل ډېر عمر په بند او تبعید کې تېر کړی دی.

یونسکو هر کال د مارچ پر یویشتمه د شعر نړۍواله ورځ لمانځي. د ۲۰۰۲ کال د شعر نړۍوال ورځ د ناظم حکمت په نوم نومول شوې وه:

« زما ورونو، زه له خپلو طلایي وېښتو سره سره اسیایي یم. له خپلو شنو سترګو سره سره افریقایي یم...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبو غاړه
زه او چينار،
لمر او پيشو
ورسره ژوند.
اوبه سرې دي
چينار ډېر لوړ دی.
پيشو ويده ده
او زه لګيا يم
شعرونه اوبم.
اوبه ځلېږي
د لمر پړکا
پر موږه شيندي
د اوبو غاړه
زه او چينار
لمر او پيشو
دا د خدای ښه دي
واړه ژوندي يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

Su başında durmuşuz.
Su serin,
Çınar ulu,
Ben şiir yazıyorum.
Kedi uyukluyor
Güneş sıcak.
Çok şükür yaşıyoruz.
Suyun şavkı vuruyor bize
Çınara bana, kediye, güneşe, bir de ömrümüze...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منصور حلاج

۸۵۲ م-۹۲۲ م



ابو منصور حسین الحلاج د اسلامي تصوف یوه مرکزي څېره او د حق د وینا له پاره د سترې قربانۍ سمبول، په ۲۳۴ هـ کې زېږېدلی او په ۳۰۹ هـ (د ۹۲۲ میلادي کال د مارچ پر شپږویشتمه – د ۳۰۱ هـ.ل د حمل پر شپږمه) اعدام شو. حلاج د خپل روحاني پیغام د خپرولو له پاره په فارس، خراسان، افغانستان او هند کې، تر لاهوره وګرزېد او په سلګونو لارویان یې و موندل. د «اناالحق» په ویلو تکفیر شو او په سخت عذاب کې ووژل شو. ویل کېږي چې زر بېلابېل اثار یې لیکلي وو چې رخجنو وسېزل. دیوان یې (په عربي ژبه) او شطحیات (ګډې وډې ویناوې) یې مشهور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هم هغه یم چې پرې مین یم،[12]
چې پرې مین یم، هغه هم زه یم
موږ یو دوه روحه
یوه کالبوت کې
که ته ما وینې هغه لیدای شې
که هغه وینې
دواړه دربشکارو

[12] د عربي متن په پوهېدو کې د فرانسوي مستشرق لوېي ماسینیون (Louis Massignon) له فرانسوي ژباړې استفاده شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَنا مَن أَهوى وَمَن أَهوى أَنا
نَحنُ روحانِ حَلَلَنا بَدَنا
...
فَإِذا أَبصَرتَني أَبصَرتَهُ
وَإِذا أَبصَرتَهُ أَبصَرتَنا
...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیرالانوار - Chairil Anwar

۱۹۲۲ – ۱۹۴۹



د اندونیزیا د ازادۍ د کلونو (د ۱۹۴۵ نسل) شاعر، چې ځینې یې د اندونیزیایي ژبې بشپړوونکی بولي، خیرالانوار په هالنډي ښوونځیو کې زده‌کړې پیل کړې خو د غریبۍ له امله اړ شو چې په ۱۹ کلنۍ کې یې پرېږدي. غربي لیکوال یې لوستي، ترې اغیزمن شوی او په نتیجه کې یې د شعر لاره له پخوانیو اندونیزیایي شاعرانو څه بېله غوندې دّه. لومړی یې شعرونه په ډېر ارزانه کاغذ چاپېدل. ټولګه یې په ۱۹۴۵ کې چاپ شوه. د ۱۹۴۹ د اپریل پر اته ویشتمه ومړ. اوس دغه ورځ د اندونیزیا د شعر د ملي ورځې په توګه لمانځل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زه[13]

چې وخت مې پوره شي
نه غواړم چې څوک زما له پاره سوال وکړي
ژړا نه غواړم
ستا ژړا هم نه
ایسته کړئ، ژړاګانې مو ایسته کړئ
زه یو د صحرا ځناور یم
چې خپل خېل هم شړلی یم
ګولۍ به مې وجود سوری سوری کړي
خو زه به لا روان یم
له خپل درد، خپلو زخمونو سره
حملې به کوم
حملې به کوم
تر هغو
چې درد مې ورک شي
دچا پروا را سره نه وي
غواړم
زر کاله نور هم ژوندی اوسم

[13] دا شعر یې په ۱۹۴۳ کې لیکلی او د انفرادیت د شعر د نمونې په توګه یادېږي. ځینې په کې د خپلواکۍ د خوزښت څرکویني. د پښتو ژباړې له پاره له انګلیسي او فرانسوي ژباړو کار اخیستل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Kalau sampai waktuku
'Ku mau tak seorang 'kan merayu
Tidak juga kau
Tak perlu sedu sedan itu
Aku ini binatang jalang
Dari kumpulannya terbuang
Biar peluru menembus kulitku
Aku tetap meradang menerjang
Luka dan bisa kubawa berlari
Berlari
Hingga hilang pedih perih
Dan aku akan lebih tidak peduli
Aku mau hidup seribu tahun lagi!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کبیر داس

۱۵۱۸-۱۴۴۰



هندي شاعر کبیر داس په بنارس کې په یوه مسلمانه کورنۍ کې زېږېدلی خو له خپل استاد هندو مذهبي مشر رامانندا څخه متأثر شوی دی. د کبیر په اړه ویل کېږي چې د دواړو مذهبونو، اسلام او هندویزم، له مروج حاکم برداشت سره یې چندان جوړه نه وه خو کله چې ومړ هم هندوانو او هم مسلمانانو خپل وباله. په هند کې کبیر ته د ولي په سترګه کتل کېږي.

د کبیر په اند حقیقت له هغه چا سره دی چې ژوندي او ناژوندي موجودات په یو شان د الهي جلوې مظهر وګڼي، د رېښتینولۍ، حق دوستۍ لار خپله کړه خو له دنیوي چارو ځان په څنګ ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زما وجود کې سپوږمۍ ځلېږي[14]

زما وجود کې
سپوږمۍ ځلېږي
خو زما سترګې
تېې ړندې دې
ليدای يې نه شي
سپوږمۍ ځلېږي
لمر ورسره دی
ابدی ډول دی
بې له وهلو
زما دننه
په درز ګرزېږي
کاڼه غوږونه
يې اورېدای نه شي
د آدم زوی چې
«زه يم»، «زما دی»
په چغو سر وي
هر څه چې کاندي
په ورکه شمار دي
کله چې «زه» او
«زما» نابود شي
د خدای کمال به
په کې ښکاره شي
دلته چې هر څوک
په هڅو سر دي
يوازې پوهه
به پسې غواړي
چې کله پوه شي
نو هڅې پرېږدي

[14] پښتو ژباړه د رابيندراناتهـ ټاګور د انګليسي ژباړې له مخې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل چې غوړېږي
مېوه ترې زېږي
مېوه پخه شي
ګل نور رژېږي
هوسۍ په ځان کې
مښک دي رانغښتي
په کار يې نه دي
ګرزي، وښو ته
داسې پسخېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چاندھ جهالکی یہی گھٹ مہین

THE MOON shines in my body, but my blind eyes cannot see it:

The moon is within me, and so is the sun.

The unstruck drum of Eternity is sounded within me; but my deaf ears cannot hear it.

So long as man clamours for the I and the Mine, his works are as naught:

When all love of the I and the Mine is dead, then the work of the Lord is done.

For work has no other aim than the getting of knowledge:

When that comes, then work is put away.

The flower blooms for the fruit: when the fruit comes, the flower withers.

The musk is in the deer, but it seeks it not within itself: it wanders in quest of grass.

(Rabindranath Tagore)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روبرت دېسنوس – Robert Desnos

۱۹۰۰ – ۱۹۴۵



فرانسوی شاعر، د ۱۹۲۰ کال شاوخوا له مودرنیست (Modernisme) ادبي خوزښت سره نښردې کېږي خو بیا په ۱۹۲۲ له سورریالسم (Surréalisme) سره یو ځای کېږي. له بېلابېلو خپرونو سره د ژورنالیست په توګه کار کوي او په دې ترڅ کې کره کتنې ته د یو ادبي فعالیت په نظر ګوري.

د فاشیستي نظریو د خپرېدا په وړاندې له فاشیستي ضد کړیو او د فرانسې له«ملي جبهې» سره یوځای کېږي. د فرانسې د اشغال پر مهال د مقاومت د یو ګروپ غړی دی. په ۱۹۴۴ کې نیول کېږي او د «اوشویخ» په کمپ کې بندي کېږي. یوه میاشت وروسته له هغې چې جرمنیان کمپ پرېږدي مري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اتلسو مترو مېږی

د اتلسو مترو مېږی
چې خولۍ يې پر سر وي
نه شته چې نه شته
يو مېږی چې د پنګوين او مرغاويو
ډکه ګاډۍ کشوي
نه شته چې نه شته
يو مېږی چې فرانسوي وايي
لاتيني او جاوايي وايي
نه شته چې نه شته
نو ولې نه شته، ولې نه شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Une fourmi de dix-huit mètres

Une fourmi de dix-huit mètres
Avec un chapeau sur la tête
Ça n'existe pas, ça n'existe pas
Une fourmi traînant un char
Plein de pingouins et de canards
Ça n'existe pas, ça n'existe pas
Une fourmi parlant français
Parlant latin et javanais
Ça n'existe pas, ça n'existe pas
Et pourquoi... pourquoi pas

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایمیلي الیزابت دیکنسن - Emily Elizabeth Dickinson

۱۸۳۰ - ۱۸۸۶



امریکایي لیکوالې، ایمیلي دیکنسن که څه هم څه باندې ۱۸۰۰ شعرونه لیکلي دي خو په خپل ژوند کې یې یوازې د لسو شاوخوا شعرونه چاپ کړي دي. هغه شعرونه یې چې په ژوند چاپ شوي دي په خورا دقت ایډېټ شوي وو او په خپل وخت کې هم خاص بلل کېدل. د شکل له لحاظه یې شعري تخنیک پوخ و او قافیې یې په ډېر مهارت کارولې.
لومړۍ شعري ټولګه یې تر مړینې څو کاله وروسته په ۱۸۹۰ کې چاپ شوه خو تر نیمايي ډېر شعرونه یې نېږدې نیمه پېړۍ د کورنیو شخړو له امله ناچاپ پاتې شول. له ۱۸۹۰ را په دې خوا د ایمیلي دیکنسن اثار په منظم ډول چاپېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستا په زړه کې وياله شته ده

ستا په زړه کې وياله شته ده
چې بې زړه، بې زړه ګلان په کې غوړېږي؟
حياناکې مرغۍ هغلته اوبه څښي
او چې سيوري په کې رېږدي؟
داسې غلې شان بهېږي چې هيڅوک پرې خبر نه دي
چې به دلته هم وياله وي
خو بيا هم ستا د ژوندون خوارکۍ تنده
هره ورځ هلته ماتېږي
دا وياله په پسرلي ګوره
چې سيندونه ډک روان وي
واورې څغلي پاس د غرونو له سرو نه
پلونه هم ورسره درومي
او بيا وروسته په سره اوړي
چې چمن وچ، سوی پروت وي
خيال پرې ساته ستا د ژوند وړه وياله به
يوه سره غرمه وچېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Have you got a brook in your little heart

Have you got a brook in your little heart
Have you got a brook in your little heart,
Where bashful flowers blow,
And blushing birds go down to drink,
And shadows tremble so?
And nobody knows, so still it flows,
That any brook is there;
And yet your little draught of life
Is daily drunken there.
Then look out for the little brook in March,
When the rivers overflow,
And the snows come hurrying from the hills,
And the bridges often go.
And later, in August it may be,
When the meadows parching lie,
Beware, lest this little brook of life
Some burning noon go dry!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Pierre de Ronsard - پيېر دو رونسار

۱۵۲۵ -۱۵۸۵



«د شاعرانو شهزاده او د شهزادګانو شاعر» پییر دو رونسار د فرانسې د رنسانس د دورې یوه مهمه څېره ده. د هغه مهال له اووه نور شاعرانو – ژواکیم دیو بېلی (Joachim du Bellay)، ژان آنتوان دو باییف (Jean-Antoine de Baïf)، اېتیېن ژودېل (Etienne Jodelle)، رېمي بېلو (Ré my Belleau)، ژان دورا (Jean Dorat)، ژاک پېلتیې (Jacques Pelletier) او پونتوس دو تیيار (Pontus de Tyard ) سره یې یو تاریخي مهم ادبي خوزښت د پلېیاد (Pléiade) یا «پیرونې» په نامه پیل کړ چې موخه یې د هغه مهال د معتبرو ژبو (لکه لاتینې) له اغیز څخه د فرانسووي ژبې را ایستل او دې ژبې ته د یو ځانګړي هویت ورکول وو.

رونسار په خپلو شعرونو کې هم د ژبې روانۍ او سوچه والي ته پام کړی دی او هم یې د شعري انځورونو په پنځولو کې ستر لاس درلود. د خپل وخت د منل شوو شعري قالبونو کارولو ته یې ځانګړې توجه کړې ده او د سانېټ قالب په رواجولو.کې یې مخکښ نقش لوبولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## راځه چې ورشو[15]

ښکلوکې راشه
ګلاب ته ورشو
سهار یې لمر ته
خپلې سرې ختې
وې غوړولې
چې مازیګر خو به یې
جامې شلېدلې نه وي
ها ښکلی رنګ یې
چې ببخي تا غوندې و
چېرته الوتی نه وي
###
ښکلوکې ګوره
چې څومره ژر یې
خپل ښایستونه
پر ځمکه تل کړل
دا طبیعت هم
میرنۍ مور ده
یو ښکلی ګل چې
تر مازیګره
لا نه پایېږي
###
ښکلوکې راشه
یوه خبره
له ما هم واوره
څو دې ښکلا ته
سترګې برېښېږي
له پېغلتوبه
خوندونه واخله

[15] دا شعر د شاعر معشوقې کساندرا ته ډالۍ شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه دا ګل يې
چې تار په تار کړ
زړښت به راشي
تا به هم واخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Mignonne, allons voir si la rose

Mignonne, allons voir si la rose
Qui ce matin avait déclose
Sa robe de pourpre au Soleil,
A point perdu cette vêprée
Les plis de sa robe pourprée,
Et son teint au vôtre pareil.

Las ! voyez comme en peu d'espace,
Mignonne, elle a dessus la place
Las ! las ses beautés laissé choir !
Ô vraiment marâtre Nature,
Puis qu'une telle fleur ne dure
Que du matin jusques au soir !

Donc, si vous me croyez, mignonne,
Tandis que votre âge fleuronne
En sa plus verte nouveauté,
Cueillez, cueillez votre jeunesse :
Comme à ceste fleur la vieillesse
Fera ternir votre beauté.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سل واره مې دا هیله ده کړې

سل واره او سل واره مې دا هیله ده کړې
چې ځان درته پېرې کړم او په پټه درته درشم
ستا په زړه کې پټ شم او هغه مرض پیدا کړم
چې ته یې  دومره سخته  کړې پر ما باندې بې رحمه

که وم هلته دننه، بیا به زه شمه برلاسې
پر هغه بد مرض چې یې دښمنه کړې د مینې
نه به پله شي رانه پاتې نه یو رګ ستا په وجود کې
چې زه ستا د پېژندو له پاره سر ورښکاره نه کړم

ته یې غواړې او که نه خو طبیعت په دې مالوم کړم
څه چې انګېرې او غواړې په هرڅه باندې به پوه شم
له رګونو به دې ټول کنګل بهر کړم

سرې لمبې به کړې د مینې په کې بلې
او چې کله ښه ډاډه شومه چې اور درباندې بل شو
نو سرې به شم له سره، ته به شې په ما مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## J 'ay cent fois desiré et cent encores d'estre

J 'ay cent fois desiré et cent encores d'estre
Un invisible esprit, afin de me cacher
Au fond de vostre cœur, pour l'humeur rechercher
Qui vous fait contre moy si cruelle apparoistre.

Si j'estois dedans vous, au moins je serois maistre
De l'humeur qui vous fait encontre Amour fascher,
Et si n'auriez ny pouls ny nerfs dessous la chair
Que prompt je ne-cherchasse afin de vous cognoistre.

Je sçaurois, maugré vous et vos complexions,
Toutes vos volontez et vos conditions,
Et chasserois si bien la froideur de vos veines

Que les flames d'amour vous y allumeriez;
Puis, quand je les verrois de son feu toutes pleines,
Je redeviendrois homme, et lors vous m'aimeriez

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرغونه سایقین

۱۹۹۹

د اوزبېکي ژبې، ځوانه افغانه لیکواله چې شعرونه یې په اوزبېکي ژبیو رسنیو کې خپرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرغۍ غاړې[16]
له خوښۍ نه دي
قفس به څنگه
وربانده پوه شي

[16] اوزبېکي متن شاعرې په خپله په دري بیان کړی او ژباړه د همدې توضیح له مخې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشلیگیدن
سیره مس قوشلر
قفسگه کیم انگلتسین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آذر سلیم - Ozar Salim[17]

۱۹۶۸



د تاجیکستان معاصر شاعر چې هم په خپل هېواد کې او هم د پارسي ژبې په نورو ټاټوبو کې منل شوې څېره ده. شعرونه یې ډېرو سندرغاړو په موسیقي هم اړولي دي.
آذر سلیم ته په افغانستان کې د زري کرکي د ۱۳۹۸ کال جایزه هم ورکړ شوې ده.

[17] د لوستو د اسانۍ په خاطر د آذر سلیم تاجیکي شعرونه په دري رسم‌الخط لیکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نیمه دنیا

لمر په دولسو ساعتونو کې
له نیمې دنیا چورلي
نور دولس ساعته
بلې نیمې ته په کار دي
*
زموږ پر کلي
له سهاره تر ماښامه
لمر ځلیږي
زموږ کلیه
ته پوره نیمه دنیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نیم دنیا

در ده و دو ساعت ار خورشید
سیر سازد نیم دنیا را
در ده و دو ساعت دیگر
میرود بر سیر نیم باز مانده
لیک من دیدم که خورشید
از سحر تا شام
در فضای روستایم میزند چرخ
روستای من، تو شاید نیم دنیایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سپي شوي زمريان

په کيسو کې چې د زمري نوم راځي
د بې وزلو ملاتړ کوي
زمری زموږ په زړو اسطورو کې اتل و
خو ما وليدل چې، سپي شوو زمريانو،
ستاسې د زمريتوب هيبت
د هېوکو تر ګاونډه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شیران سگ گردیده

شیر در هر قصه یی که ذکر نامش رفت
از ضعیفان پشتیبان بودست
شیر در اسطوره های کهنه ی ما قهرمان بودست.
لیک ای شیران سگ گردیده، من دیدم
هیبت شیری تان، افسوس
تا به نزد استخوان بودست

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مور مې باران دی[18]

مور مې باران دی
خبرې يې څومره موزونې دي!
دا زما زړه
يو وچ ځنګل دی
خو نن مې چې مور په وره راننوځي
زما زړه به د نړۍ تر ټولو شنه جلګه شي.
لکه د اوسنۍ زمانې ورونه
چې غرړ پېژني
د هغې د پښو په ښکالو پرانيستل کېږي
مور مې باران دی
د زړه واړه غمونه مې مينځي.

[18] په لږ مانيز توپير دا شعر دوه واره ژباړل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## باران مې مور ده

باران مې مور ده
خبرې یې څومره موزونې دي!
دا زما زړه
یو وچ ځنګل دی
خو نن مې چې مور په وره راننوځي
زما زړه به د نرۍ تر ټولو شنه جلګه شي.
لکه د اوسنۍ زمانې ورونه
چې غبر پېژني
د هغې د پښو په ښکالو پرانیستل کېږي
باران مې مور ده
د زړه واړه غمونه مې مینځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مادرم باران است

مادرم باران است
حرفهایش چقدر موزون اند
حالیا این دل من
هست یک جنگل خشک
لیک امروز چو مادر زدرم باز آید
دل من سبزترین بیشه ی دنیا گردد
همچو درهای معاصر که شناسند صدا
در اسرار شگفتن
به صدای قدمش وا گردد
مادرم باران است
همه اندوه دلم میشوید

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګونګی باغ

باغ چې ژاړي.
هسې نه ده چې ځواني یې ترینه تللې
د وریمې له هجره هم نه،
نه له دې چې د لمر مینه کمه شوې.
نه د منې د باران له لاسه ژاړي.
د باغ ژبه وه د پانو، اوس رژیږي
باغ د ژبې، خپلې ژبې په مرګ ژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## باغ گنگ

باغ اگر میگرید
نه ازآن که دیگر نیست جوان
نه ز هجران نسیم
نه ز بی مهری خورشید
نه ز باران خزان میگیرید.
برگهایش که زبانش بودند میریزند
باغ بر مرگ زبان میگیرید

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د باد سورنی

د باد غوغا د سورنۍ غږ ته ورته
زما وجود کې يې د مني سره سا ورپو کړه
تر پښو لاندې چې يوه پاڼه ذره ذره شوه
زما له زړه يې د شينوالي هيله وتوږله
د رودکي[19] غوندې مې آه له شونډوو واته چې
»وختونه نور شو...» خلک هم بدل شول
»وختونه نور شو...» هر يو تن بدل شو
يوازې زه د تل په څېر پاتې يم
لکه د «جوی خانم»[20]
«فقط همدومره و د لارې څوری!»
د باد په چغو کې دا غږ اورمه.
هسې خوارې له خولې وکاږې کړيکې
بادونه خوشې فريادونه نه کړي.
د کړکۍ شا ته مې د باد د سورنۍ غږ پورته شو
د باد سورنی غږېږي.

---

[19] رودکي وايي:
کنون زمانه دگر گشت و من دگر گشتم
عصا بيار، که وقت عصا و انبان بود
(چې زمانه شوله بدله ، زه يې هم بدل کړم
امسا مې راوړه چې د ګوډي او امسا شومه نور)

[20] «جوی خانم» په بلخ کې د يوې ويالې نوم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ترنای باد

فغان باد چو فریاد ترنا بود، کزآن
دمید روح خزان در تمام پیکر من
و از شکستن یک برگ زیر پای، شکست
به سبز بودن امید خویش باور من
چو رودکي به لبم آه تلخ میگوید:
«کنون زمانه دیگر گشت و...» شد دیگر مردم
«کنون زمانه دیگر گشت و...» شد دیگر همه کس
به غیر از من و این جوی ساده ی خانم
«تمام زاد سفر غیر آن نیست مرا»
شنیدم این سخن تلخ ز ترنای باد
تلاش بی ثمر آخر شود فغان در لب
نمیکشند به بیهوده باد ها فریاد
صدای ترنای باد است پشت پنجره ام
صدای ترنای باد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Philippe Soupault - فیلیپ سوپو

۱۸۹۷ -۱۹۹۰



فرانسوی شاعر، لیکوال او ژورنالیست دی چې له آندې بروتون (André Breton) او لویي اراګون (Louis Aragon) سره يې لومړی د داداییزم (Dadaisme) بنسټ کښېښود چې هدف ترې د ادبیاتو له سره ایجاد و. بیا يې له همدغو شاعرانو او نورو سره د سوررياليسم بنسټ کښېښود.
شعري ټولګې، ناولونه او د لنډو کیسو کتابونه، د تیاتر ننداری، تکلونه، آټو بیوګرافیک آثار او د رسامیو البومونه يې خپاره شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کليزه

غواړمه درکړم
يو د سر تاج چې
د اسمان ستوري
واړه په کې وي

غواړمه درکړم
د ټولې ځمکې
د بلبلانو واړه سندرې

غواړمه درکړم
چوپتيا د ژمي
د پسرليو واړه موسکاوې
هغه د اوړي
ټولې رڼاوې
لمبې د مني

غواړمه درکړم
څه مې چې نه وو
چې در مې نه کړل
دغه خپل ژوند مې
زموږه دواړو
تلپاتېوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Anniversaire

Je voudrais te donner
une couronne
constellée de toutes les étoiles
du firmament

Je voudrais te donner
Le chant des rossignols
De toute la terre

Je voudrais te donner
Les silences de l'hiver
Les sourires du printemps
La clarté de l'été
Les flammes de l'automne

Je voudrais te donner
Tout ce que je n'ai pas pu
Pas su
Te donner
Ma vie
Notre éternité.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لیوپولد سېدار سېنګور - Leopold Sedar Senghor

۱۹۰۶ – ۲۰۰۱



د سېنېګال شاعر، لیکوال او سیاستوال دی. یوازینی افریقایي دی چې د فرانسې د اکاډېمي غړیتوب یې تر لاسه کړی دی. د سېدار سېنګور د شاعرۍ ایډیال که څه هم نړۍوال مدنیت دی خو د تور پوستو د فرهنګي او تمدني هویت ستر مدافع هم دی. شعر یې له افریقا او افریقایي هویت سره ژور پیوند لري.
د هېواد تر خپلواکۍ د مخه د فرانسې په حکومت کې تر وزارته رسېدلی و او تر خپلواکۍ وروسته له ۱۹۶۰ څخه تر ۱۹۸۰ پورې د سېنېګال ولسمشر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوازې یم

زه دې ورشو کې، تکی تنها یم
په شومه دم کې
له یخنی غونجو
ونو په خوا کې.
هغوی ځنګلې
خپلې تنې نه
راتاوې کړي
یوه له بلې
پورې نښتې
پاڼې یې تللي
دخپلې خوښې
ها جزیرو ته
زه دې ورشو کې، تکي تنها یم
په شومه دم کې
یوازې توب یم
د تشو لارو
څنګ ته ولاړو
د بربښنا ستنو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Je suis seul

Je suis seul dans la plaine
Et dans la nuit
Avec les arbres recroquevillés de froid
Qui, coudes au corps, se serrent les uns tout contre les autres.
Je suis seul dans la plaine
Et dans la nuit
Avec les gestes de désespoir pathétique des arbres
Que leurs feuilles ont quittés pour des îles d'élection.
Je suis seul dans la plaine
Et dans la nuit.
Je suis la solitude des poteaux télégraphiques
Le long des routes
Désertes.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Johann Christoph Friedrich von Schiller - فریدریش شیلر

۱۸۰۵-۱۷۵۹



د الماني ژبې يو تر ټولو ستر شاعر دی چې ځينې شعرونه او نظمونه يې اوس د الماني ادبياتو هغه ټوټې دي چې له پام نه شي غورځېدای. د شعر او تياتر تر څنګه يې فلسفي ليکنې هم کړې دي چې د ښکلا پېژندنې (Esthetics) او ټولنيز مسايل يې په کې ځيرلي دي چې د المان پر ايدياليسم (Idealism) او رومانتيسم (Romantism) يې ژور اغيز ښندلی دی.

د مشهور ليکوال او فيلسوف ګويته (Goethe) سره ملګرتيا يې د ژوند په وروستۍ برخه کې فکري نظام تر ډېره اغيزمن کړی دی.

هغه موضوعات چې شيلر پرې کار کړی دی، که د اخلاقو په برخه کې دي، که د سياست په برخه کې دي او که د ښکلا پېژندنې په برخه کې، د المان - او په ټوله کې د اروپا - فکر او ادبياتو ته يې په يو ډول لوری ورکړی دی. په الماني ادبياتو کې د کلاسيسيسم (Classissism) د تشې د ډکولو په خاطر يې د فرانسوي ليکوا راسين (Racine) تراژيدي فېدر (Phèdre) الماني ته وژباړله او په الماني کې يې د يوناني تراژيدۍ اساسات معرفي کړل. او په دې توګه يې هم د المان او هم د اروپا په ادبياتو کې غبرګ، کلاسيک او رومانتيک، حيثيت خپل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ایمان خبرې[21]

درې خبرې درته وایم
له ژورې مانا ډکې
چې له هرې خولې راوځي
خو د زړه له تله خېژي
بې ارزښته هغه څوک دی
چې پر دې دریو خبرو
یې په زړه کې باور نه وي
انسانان ازاد پیدا دي
که زنځیر کې هم زېږېږي
د عوامو په خبرو مه تېروځئ
نه د هغو په خبرو
چې له عقله پلي شوي
غلامان چې زنځیر مات کړي مه ډارېږئ
له ازاد انسانه هم ترهه و نه کړئ
نېکي تشه وینا نه ده نو دنیا کې
انسانانو ته نېکي ده
که پښې یې په هر یو قدم کې ربړدي
بیا به هم د الهي موخې له پاره قدم اخلي
هغه څه چې د پوهانو
علم او پوهې ته نه ښکاري
ساده پاکې ارواګانې
پرې پوهېږي
خدای هم شته دی، ارادې یې دي تلپاتې
د سړیو ارادې که ټینګې نه وي،
پر زمان او پر مکان باندې خپره ده
ها ژوندی، ها لوړه پوهه
هر څه اوړي او بدلېږي
دې بې پایه دایره کې

---

[21] د الماني متن په جزییاتو د پوهېدلو له پاره مې د ګزاوېې مرمېې (Xavier Marmier - ۱۸۰۸ – ۱۸۹۲) پر فرانسوي ژباړې تکیه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په منځ کې بې بدلونه، بې هراسه
هغه ستر بې شانه روح دی
دغه درې له مانا ډکې
او ژورې وینا ساتئ
خوله په خوله یې انتقال کړئ
له یوه نسل نه بل ته
دا وینا وې به په زړونو کې وې مېشتې.
له انسانه به هېڅکله، په هېڅ حال کې
څوک غلا نه کړي
کوم ارزښت چې ده کې شته دی
څو پر دغو درې خبرو
یې په زړه کې باور پروت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Die Worte des Glaubens

Drei Worte nenn ich euch, inhaltschwer,
Sie gehen von Munde zu Munde,
Doch stammen sie nicht von außen her,
Das Herz nur gibt davon Kunde,
Dem Menschen ist aller Wert geraubt,
Wenn er nicht mehr an die drei Worte glaubt.
Der Mensch ist frei geschaffen, ist frei,
Und würd er in Ketten geboren,
Laßt euch nicht irren des Pöbels Geschrei,
Nicht den Mißbrauch rasender Toren,
Vor dem Sklaven, wenn er die Kette bricht,
Vor dem freien Menschen erzittert nicht.
Und die Tugend, sie ist kein leerer Schall,
Der Mensch kann sie üben im Leben,
Und sollt er auch straucheln überall,
Er kann nach der göttlichen streben,
Und was kein Verstand der Verständigen sieht,
Das übet in Einfalt ein kindlich Gemüt.
Und ein Gott ist, ein heiliger Wille lebt,
Wie auch der menschliche wanke,
Hoch über der Zeit und dem Raume webt
Lebendig der höchste Gedanke,
Und ob alles in ewigem Wechsel kreist,
Es beharret im Wechsel ein ruhiger Geist.
Die drei Worte bewahret euch, inhaltschwer,
Sie pflanzet von Munde zu Munde,
Und stammen sie gleich nicht von außen her,
Euer Innres gibt davon Kunde,
Dem Menschen ist nimmer sein Wert geraubt,
So lang er noch an die drei Worte glaubt.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رابعه عدویه قیسیه

۸۰۱–۷۱۲



رابعه عدویه د اسماعیل عدوی قیسي لور په دویمه هجري پېړۍ کې (۱۸۵ هـ – ۱۸۴ هـ) د عربو ستره شاعره او د اسلامي تصوف خورا مشهوره څېره ده چې په «تاج الرجال» او «ام‌الخیر» هم یاده شوې ده. د حسن بصري او ابراهیم ادهم په څېر سترو صوفیانو سره همعصره ده او د روایاتو له مخې یې ورسره لیدلي هم دي.

د رابعې په اړه یو مشهور روایت وایي چې هغې په یو لاس کې د اوبو کوزه او په بل لاس کې بله ډیوه ګرزوله، ویل یې په اور جنت سېزم او په اوبو دوزخ وژنم چې انسان د خالق عبادت د مینې له مخې وکړي نه د وېرې او تمې له مخې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې خوربږې، ژوند دې ترخېږي[22]
ته چې خوښېږې، نور دې قهرېږي
ستا او زما چې اړيکې کلک شي
لار مې دې نورو څنې بېلېږي
ستا ياري روغه، نور دې په هېڅ شي
پر خاوره بره، دې خاورې کېږي

[22] د عربي متن په پوهېدو کې مې د ډاکټرې خديجې کشوک D. KCHOUK Khedija له فرانسوي ژباړې مرسته اخيستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلیتک تحلو والحیاة مریرة
ولیتک ترضی والانام غضاب
ولیت الذی بینی وبینک عامر
وبینی وبین العالمین خراب
اذا صح منک الود فلکل هین
وکل الذی فوق التراب تراب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رابرټ فراست – Rober Frost

۱۸۷۴ – ۱۹۶۳



رابرټ فراسټ، امریکايي شاعر، په امریکا کې د مودرنیسم (Modernism) د پراخې او چټکې خپرېدا پر وړاندې د یو ډول غبرګون په توګه مخالف لوري ته مخه کوي او د خپل شعر موضوعات او انځورونه د امریکا له کلیوالي ژونده را اخلي چې هم په کې یو ډول هزل شته او هم شکاکیت. فراسټ ته د اتلسمې او نولسمې پېړۍ د شعر د اتصال کړۍ هم وايي.

د فراسټ شاعري د یوازې توب، فردیت او طبیعت له ارزښتونو ډکه ده او د شلمې پېړۍ د شعر زېرې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور او کنګل

ځینې وایي دا جهان به په اورونو کې ختمېږي
ځینې وایي نه په یخ کې.
د شوق خوند چې ما لیدلی
زه د اور له پلویانو سره مل یم.
خو که بل ځل تباهي وي
فکر کړمه چې له کرکې هم خبر یم
شم ویلای تباهۍ ته
یخ هم ښه دی
ګوزاره وربانديې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Fire and Ice

Some say the world will end in fire,
Some say in ice.
From what I've tasted of desire
I hold with those who favor fire.
But if it had to perish twice,
I think I know enough of hate
To say that for destruction ice
Is also great
And would suffice.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماري لور ګرووار - Marie-Laure Grouar

۱۸۴۳- ۱۸۲۲



د فرانسوۍ شاعرې، مورزادي ګونګۍ او ړندې، د عقلي معلوليت درلودونکې ماري لور لنډ ژوند د غمونو او حوادثو مجموعه وه. پلار یې د ناچلو پیسو د کارولو په تور په تبعید او شاقه بند محوم شو. خور یې په نري رنځ مړه شوه او په خپله هم چې په همدې ناروغۍ اخته وه، نورماندي ته ولاړه او لږ وخت وروسته یې سا ورکړه.

له ستونزو او محدودیتونو سره سره یې د خپل وخت له سترو لیکوالو او شاعرانو لکه شاتوبریان (Chateaubriand)، سنت بوو (Sainte Beuv) او مارسلین دېبورد والمور (Marceline Desbordes-Valmore) سره د لیکونو تبادله کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا ویل پیغلې شاعرې
زړه دې پېټ کړه، د اروا غزل دې غلی!
زموږ ښځې دې ګونګې وي
پر خپل عشق باندې منکرې، د دردونو ساتندوېې
خو زه وایمه چې تالندو ته ورشه،
توپانونو، سېلاوونو ته ووایه چې خپل قهر بېرته و خوري
په درو کې د انګې غبرونه ټپ کړه
چې د درد یا د ښادۍ کریکې یې خېژي
په خاښونو کې بلبلو ته ووایه
چې سندره کې یې ته اندېښنې ګورې
ورته وایه چې د تل له پاره چوپ شي. څوک چې ښکېل دي زولنو کې
د سپېڅلې ازادۍ امید پرې بند کړه
چې غبرونه، چې سندرې، چې سلګۍ واړه خاموش شي
چه هر، هر څه ګونګ او لال شي، زه به بیا سندرې بس کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

Vous m'avez dit un jour : Jeune fille poëte,
Ne chantez point votre âme et cachez votre cœur ;
La femme, parmi nous, doit demeurer muette,
Renier ses amours et garder sa douleur.

Et moi je vous réponds : Dites à la tempête,
Aux grands vents, aux grands flots d'étouffer leur fureur ;
Faites taire au vallon l'écho fort qui répète
Ou le cri de souffrance ou le cri du bonheur ;

Dites au rossignol, sous la grande ramée,
Que son accent fait peine à votre âme alarmée…
Qu'il se taise toujours… Défendez au reclus

D'invoquer l'espérance et la liberté sainte ;
Faites taire tout bruit, tout chant et toute plainte :
Quand tout sera muet, je ne chanterai plus.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رېموند کونو - Raymond Queneau

۱۹۰۳ – ۱۹۷۶



فرانسوی شاعر، کونو په ۱۹۲۴ کې له سورریالیسم سره یو ځای شو خو څو کاله وروسته د دغه ادبي مکتب له مهم سرلاري اندرې بروتون (André Breton) له خوا له دې ادبي مکتب څخه و ایستل شو. په غبرګون کې یې کونو یو شمېر طنزي لیکنې هم وکړې.
له یوې خوا د فرانسې د یوې خورا مهمې خپرندوېې ټولنې ګالیمارد (Gallimard) سره د مصحح په توګه او وروسته د ادبیاتو د خورا مهمو آثارو د مجموعې د خپرلو د لړۍ (Pléiade) مشر هم شو، خو له بلې خوا د فرانسوي ژبې د بدلون او پر ژبه د نوو رسنیو (لکه تلویزیون) اغیز ته اندېښمن و.
په ۱۹۵۰ کې یې له څو نورو مهمو لیکوالو سره د «پاتافیزیک» (Pataphysique) کالج (چې د میتا فیزیک مسخ شوې بڼه ده، طنز، پر کلماتو لوبو او د نامتعارفو افکارو بیان ته خاصه توجه کوي) بنسټ کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر

چې ښه يې خوښ کړې، ښه يې کتار کړې
له يو څو ټکو شعر جوړېږي
ټکي، که مينه ورلره ورکړې،
نو شعر کېږي
کله څوک خپله هم نه پوهېږي
چې زه څه وايم،
شعر چې جوړ شي، مضمون به ګوري
چې بيا يو نوم هم ورباندې کښېږدي
نورو وختو کې، به خاندې، ژاړې
چې شعر ليکې
شعر، که هرڅه ورسره وکړې
بيا هم افراط دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Un poème

Bien placés bien choisis
quelques mots font une poésie
les mots il suffit qu'on les aime
pour écrire un poème
on ne sait pas toujours ce qu'on dit
lorsque naît la poésie
faut ensuite rechercher le thème
pour intituler le poème
mais d'autres fois on pleure on rit
en écrivant la poésie
ça a toujours kékchose d'extrème
un poème

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هنري لاسن - Henry Lawson

۱۸۶۲ – ۱۹۲۲




د استراليا د استعماري دورې يو خورا ستر شاعر او ژورنالست، هنري لاسن، د لنډو متنونو په ليکلو کې شهرت لري.

ژبور نشنلست، لاسن د استراليا د سيمه‌ييزې ژبې د فېکشن د ودې له پاره جدي کار کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په غرونو کې باران

د لړو وربځې، درې پرې ډکې،
خړکې ښکلا یې چېرته غرقېږي
د لاچي ونې، سختې شغېږي
غرونو دې تندې، تروې نیولې
لړې، ریتاړې د کوم کفن دي
چې له کمرونو را ځړېدلې
د ځړوبیو ګڼې کتارونه
د غره له څوکو لاندې را څاځي

اسمان د سرپو په شان ته خړ دی
مګر کوم ځای چې شمال برګ شوی
رڼا د ورځې، په تېښته درومي
راباندې شپه شوه، په منډه منډه
خو زما مینې، باران به تېر شي
زما تر غمه لا هم تر مخه
دې د سرو زرو مازیګري کې
لمر روانېږي، د سبا لور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Rain In The Mountains

THE valley's full of misty cloud,
Its tinted beauty drowning,
The Eucalypti roar aloud,
The mountain fronts are frowning.
The mist is hanging like a pall
From many granite ledges,
And many a little waterfall
Starts o'er the valley's edges.
The sky is of a leaden grey,
Save where the north is surly,
The driven daylight speeds away,
And night comes o'er us early.
But, love, the rain will pass full soon,
Far sooner than my sorrow,
And in a golden afternoon
The sun may set to-morrow.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Philip Larkin - فیلیپ لرکین

۱۹۸۵ – ۱۹۲۲



فلیپ لرکین په انګلستان کې د شلمې پېړۍ تر ټولو ستر شاعر بلل شوی دی. د ملک الشعرا (Poet Laureate) لقب وراندیز هم ورته وشو چې و يې نه مانه.
د لرکین د شعر په اړه ویل شوي چې ځانګړتیا يې د عادي، ورځنۍ ژبې سبک، روښتیا، آرامه او له فکره ډک لحن، طنز او د عام عقل سره مستقیم تړاو دی.
د هغه د سبک په اړه دا هم ویل شوي چې د تغزل او نارضایتۍ مجموعه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ورځې

ورځې ولې پیدا شوې؟
موږ په ورځو کې اوسېږو.
ورځې راشي، موږ راویښ کړي،
په یو نه، په څو څو ځله.
ورځې ځای د خوشالۍ دی
موږ به چېرې اوسېدلای که ورځ نه وای؟
دا پوښتنه که ځواب شي
نو طبیب او ملا دواړه
به اوږدو جامو کې راشي
میدانونو کې به ځغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Days'

What are days for?
Days are where we live.
They come, they wake us
Time and time over.
They are to be happy in:
Where can we live but days?
Ah, solving that question
Brings the priest and the doctor
In their long coats
Running over the fields.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فدریکو گارسیا لورکا – Federico Garcia Lorca

۱۸۹۸ – ۱۹۳۶



فدریکو گارسیا لورکا اسپانیايي شاعر، ډرامه لیکونکی او سټېج جوړوونکی دی چې د شلمې پېړۍ په پیل کې یې د اروپا منل شوي، نوي او متفاوت، ادبي خوزښتونه له یو شمېر نورو ځوانو لیکوالو (د ۲۷ ډله) سره اسپانيې کې معرفي کړل. لورکا د اسپانيې د ګرېنادا سره نېږدې پیدا شوی او لوی شوی دی، ماشومتوب او ځواني یې د اسپانيې له ژیتانو سره نېږدې
تېره کړې (ژیتان یوه کوچۍ قبیله ده چې ډېر وخت یې د ختیځې او لویدیزې اروپا تر منځ تګ راتګ کاوه، خپله ژبه، خپل رسوم، خپله موسیقي او خپل د ژوند طرز یې درلود) او ترې اغېزمن شوی دی.
له مشهور اسپانيايي نقاش سالوادور دالی (Salvador Dali) سره یې د مینې او ملګرتیا اړیکه درلوده چې د هغه په مرسته د فرانسې او امریکا له ادبي او هنري کړیو سره په تماس کې شو.او د سوریالیستي خوزښت یوه د پام وړ څېره شوه.
د لورکا شاعري او تیاتر د ژیتانو د ژوند، د فلامنکو موسیقي او د اسپانيې د غوایانو سره د مقابلې د خونړۍ لوبې په چوکاټونو کې تنظیم شوي دي.
د اسپانيې د انقلابي نهضت مل او خواخوږی لورکا په ۱۹۳۶ کې د فرانکو د ملېشو له خوا اعدام شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لاسولیا[23]

په تور پړوني کې ده نغښتې
وایي نړۍ ډېره وړه ده
زړونه بیا لوی دي
په تور پړوني کې ده نغښتې
وایې چې نرم اوسېلی وي او که کړیکه
باد کې ورکېږي
په تور پړوني کې وه نغښتې
کړکۍ یې وازه وه پرې ایښې
په سپېده داغ کې، له دې کړکۍ نه
واړه اسمان و، دننه شوی
وی، وی، وی، وی، وی
چې تور پړوني کې وه نغښتې

---

[23] لاسولیا (La soleá) د فلامنکو موسیقي یو ډول ساز دی.
د دې شعر پښتو متن اسپانوي متن ته په توجه د فرانسوي ژباړې له مخې برابر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## La soleá

ESTIDA con mantos negros.
piensa que el mundo es chiquito
y el corazón es inmenso.
Vestida con mantos negros
Piensa que el suspiro tierno
y el grito, desaparecen
en la corriente del viento.
Vestida con mantos negros
Se dejó el balcón abierto
y al alba por el balcón
desembocó todo el cielo.
¡Ay ayayayay,
que vestida con mantos negros!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بله سندره[24]

خوب مې د تل له پاره رنګ شو
په باران لوند مازیګري کې
زما زړګي ته دننه کېږي
هغه د مني د غم سندره
چې را اوريږي له هسکو ونو

يوه خواره غوندې خپګان کې
د مرګونې منظرې زړه کې
اوس مات شوی زما غږ دی

خوب مې د تل له پاره رنګ شو
د تل له پاره لويه خدايه
واوره رالوېږي
زما د ژوند ، زما د ترهې
پر شاړې دښتې
يو توهم چې، درومې دېر لرې
د ورکېدو، کنګل کېدلو

دا اوبه ګوره، چې را ته وايي
خوب دې د تل له پاره رنګ شو
هغه ستا خوب چې پای يې نه و.
دغسې وايي، را ته نن لړې
غبار سترپا ده
د سپينې واورې.

د ساز تالونه مې داسې وايي
خوب مې د تل له پاره رنګ شو
غبار وهلي مازيګري کې

---

[24] پښتو متن اسپانوي متن ته په کتو د فرانسوي، انګليسي او دري (سيد طيب جواد) ژباړو پر بنسټ برابر شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما زړګي ته ورننوځي
هغه د مني د غم سندره
چې را اوریږي له هسکو ونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## OTRA CANCIÓN

¡El sueño se deshizo para siempre
En la tarde lluviosa
mi corazón aprende
la tragedia otoñal
que los árboles llueven.

Y en la dulce tristeza
del paisaje que muere
mis voces se quebraron.

El sueño se deshizo para siempre.
¡Para siempre! ¡Dios mío!
Va cayendo la nieve
en el campo desierto
de mi vida,
y teme
la ilusión, que va lejos,
de helarse o de perderse.

¡Cómo me dice el agua
que el sueño se deshizo para siempre!
¿El sueño es infinito?
La niebla lo sostiene,
y la niebla es tan sólo
cansancio de la nieve.

Mi ritmo va contando
que el sueño se deshizo para siempre.
Y en la tarde brumosa

(c) ketabton.com: The Digital Library

mi corazón aprende
la tragedia otoñal
que los árboles llueven.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نشه[25]

د شنو وښو ګونګوسی لا روان دی
د اینځر بوټي راته غېږ پرانیستې
لکه پړانګ چې خپل سیوری خپروي
زما پر تیارې وهلو سندرو

سپوږمۍ کوکري شماري
تېر وځي او بیا یې شماري

پرون او سبا، شین او تور
ته مې پر سر د ګنډېریو د لښتو تاج ږدې.

او د اینځر بوټي را باندې چغې وهي
راوراندې کېږي، ډاروونکی، غوړېدلی.

25 پښتو متن اسپانوي متن ته په کتو د فرانسوي، انګلیسي او دري (سید طیب جواد) ژباړو پر بنسټ برابر شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Baco

Verde rumor intacto.
La higuera me tiende sus brazos.

Como una pantera, su sombra,
acecha mi lírica sombra.

La luna cuenta los perros.
Se equivoca y empieza de nuevo.

Ayer, mañana. negro y verde,
rondas mi cerco de laureles.

¿Quién te querría como yo,
si me cambiaras el corazón?

... Y la higuera me grita y avanza
terrible y multiplicada

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړۍ کلیزه[26]

سم زما پر تندي ګرزي
اخ، زاړه، تللي حسرته!

اوس مې څه ته په کارېږي
که کاغذ دی او که رنګ دی، که شعرونه

له دې ځایه راته ستا غوښه ښکارېږي
د تازه کړکۍ په مثل، یا د سره سوسن په شانته

ای تر سپینې سپوږمۍ لاندې غنمرنګې
وایه وایه اوس زما په شوق ته څه کړې

26 پښتو متن اسپانوي متن ته په کتو د فرانسوي، انګلیسي او دري (سید طیب جواد) ژباړو پر بنسټ برابر شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Primer aniversario

La niña va por mi frente
¡Oh, qué antiguo sentimiento!

¿De qué me sirve, pregunto,
la tinta, el papel y el verso?

Carne tuya me parece,
rojo lirio, junco fresco.
Morena de luna llena.
¿Qué quieres de mi deseo?
...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په لمانځه ولاړه نجلۍ[27]

د عنبرو تر ټوکرۍ لاندې
خوبوړې

د غوایه سترګو درته کتل چې
ستا تسپې لاس کې را اوربدلې

په دې ژور، وربښمین کمیس کې
و نه ښورېږې، ویرجینیا ګلې

دا د تیونو شنې هندوانې دې
د لمونځ دعا ته، نذر کې ورکړه

27 پښتو متن اسپانوي متن ته په کتو د فرانسوي، انګلیسي او دري (سید طیب جواد) ژباړو  پر بنسټ برابر شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## LA SOLTERA EN MISA

Bajo el Moisés del incienso,
adormecida.

Ojos de toro te miraban.
Tu rosario llovía.

Con ese traje de profunda seda,
no te muevas, Virginia.

Da los negros melones de tus pechos
al rumor de la misa

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خدای پاماني[28]

که ومرم
برنده پرانستې پرېږدئ

ماشوم هلته مالټې خوري
(زه یې له خپلې برندې وینم)

لوګری غنم ریبې
(زه یې له خپلې برندې اورم)

که ومرم
برنده پرانستې پرېږدئ

28 پښتو متن اسپانوي متن ته په کتو د فرانسوي، انګلیسي او دري (سید طیب جواد) ژباړو پر بنسټ برابر شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Despedida

Si muero,
dejad el balcón abierto.

El niño come naranjas.
(Desde mi balcón lo veo).

El segador siega el trigo.
(Desde mi balcón lo siento).

¡Si muero,
dejad el balcón abierto!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له میني مړ[29]

هلته څه دي چې ځلېږي
په ژورو دهلېزو کې

زوبکه ور نور ور پسې بند کړه
ساعت یوولس بجې را ښایي

څلور ډېوې مې پر سترګو لګي
په کار مې نه دي

راته ښکارېږي چې ګاونډي مو
د مسو لوښي یو پر بل مږي

د سپینو زرو د هوږې غوټه
چې مرګي حال وي، میاشت راکمېږي،
د ډېوالونو د زېړو زېړو
برجو پر سر یې
زېږ رنګې څنې را ځړولې

شپه ترهېدلې، په برنډه کې
کړکۍ ترنګېږي
د زرو سپيو ډله پسې ده
چې پېژندلای یې لا هم نه شي
بوی د شرابو او د عنبرو
له دهلېزونو راپورته کېږي

د پخوانیو غړونو څوړ دی
د لمدو لوخو له رپا خېژي
د تورې شومې، مات رواقونه

---

29 پښتو متن اسپانوي متن ته په کتو د فرانسوي، انګلیسي او دري (سید طیب جواد) ژباړو پر بنسټ برابر شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انګازو دي
غوايان ګلابو سره ويده دي

په دهلېزو کې څلور ډېوې دي
داسې غرمېږي
لکه مومين چې ښامار چپه کړي
لاندې دره کې
غمجنې ښځې
د سرو وينې سره کښېباسي
د ګل په شانې، بې غږ و غوږه
داسې درد منې
لکه د پېغلو نجونو ورنونه

د سيند د غاړې سپينسرو ښځو
د غرو لمنو کې ژړا وکړه
د سپينو څڼو او د نومونو
يوه بې ساري غونډې شېبه وه

تپه تياره کې، سپين دېوالونه
داسې ښکارېږي لکه څپونې
کوچانې نجونې او ښاپېرۍ ګډې
اکارديون نه نغمې وکاږي

ادکې مورې کله چې مړ شوم
مشران خبر کړه،
په هغو شنو شنو تلګرافونو
چې د شمال او سوېل تر منځه
سره خواره دي

په شمار اوو چغو
ورسره اوو د وينو دارو
او بيا اوو ډکو د کوکنارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دهلېزونو په هغه تل کې
تتې هندارې، میده میده کړې

په غوځو شوو لاسونو پټې
د سرو ګلونو ګېډېیو لاندې
خدای خبر چېرته د قسمونو
او د ښېراوو
د سمندر شور و

د ځنګلونو په شور او ځوږ کې
اسمان کړې خپلې دروازې پورې
د ډیوو چیغې
د دهلېزونو تل کې خپرې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Muerto de amor

¿Qué es aquello que reluce
por los altos corredores?
Cierra la puerta hijo mío
acaban de dar las once.
En mis ojos sin querer
relumbran cuatro faroles.
Será que la gente aquella
estará fregando el cobre.

*Siete gritos, siete sangres,*
*siete adormideras dobles*
*quebraron opacas Lunas*
*en los oscuros salones.*
*Lleno de manos cortadas*
*y coronitas de flores.*
*El mar de los juramentos*
*resonaba no sé donde.*

Brisas de caña mojada
y rumor de viejas voces
resonaban por el arco
roto de la media noche.
Bueyes y rosas dormían
solo por los corredores.
Las cuatro luces clamaban
con el furor de San Jorge.

Ajo de agónica plata
la Luna menguante pone
caballeras amarillas

(c) ketabton.com: The Digital Library

a las amarillas torres.
La noche llama temblando
al cristal de los balcones
perseguida por los mil
perros que no la conocen.
Y un olor de vino y ámbar
viene de los corredores.

Madre, cuando yo me muera
que se enteren los señores.
Pon telegramas azules
que vayan del Sur al Norte.

Tristes mujeres del valle
bajaban su sangre de hombre
tranquila de flor cortada
y amarga de muslo joven.
Viejas mujeres del río
lloraban al pie del monte
un minuto intransitable
de caballeras y nombres.
Fachadas de cal ponían
cuadrada y blanca la noche
serafines y gitanos
tocaban acordeones.
Y el cielo daba portazos
al brusco rumor del bosque
mientras clamaban las luces
en los altos corredores.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Vladimir Vladimirovitch Maïakovski - ولاديمير ماياکوفسکي

۱۸۹۳ - ۱۹۳۰



روسي ليکوال، شاعر، نقاش، سناريست او د ادب او هنر تيوريسين، ماياکوفسکي د ۱۹۱۷ تر انقلاب د مخه د روسي فوتوريسم (Futurism)[30] يوه مخکښه څېره وه. که څه هم ماياکوفسکي د نوي سوسياليستي نظام ملاتړی و او د هغه له پاره د تبليغاتي پوسترونو په جوړولو کې ډېر فعال و خو د هنر په ډګر کې يې د سوسيالستي حکومت ډېرېدونکې مداخله او د «سوسياستي رياليسم» را منځ ته کول ورته د منلو وړ نه و. د رژيم ځينې کړنې يې په طنزي کارونو کې غندلې هم دي. په ۱۹۳۰ کې يې ځان ووژه.

30 فوتوريسم (آينده نګری – راتلونکي-پالنه) يو هنري ادبي حرکت دی چې په ايټاليا کې يې وده وکړه او د روسيې په ګډون نورو هېوادونو ته هم خپور شو. د فوتوريسم اساسات له تېر مهال سره پرېکون، عصريت ته مخه کول، صنعت، چټکتيا او پرمختګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګوري[31]

ګوري،
دا ستوري چې بل شوي
دا به ضرور د چا په کار وو
ضرور به چا کړي دا سوال و
چې دې پیدا شي
چاته به دا د لاړو ځاځکي
هم مرغلرې ښکارېدلې
ضرور به څوک تللي و خدای ته
مخکې له دې چې شي ناوخته
ورته به پروت و په زاریو
لاسونه لپه
چې یې یو ستوري ته حاجت و
چې بې له ستورو یې خپل غم نه شو زغملای
بیا به لړ. وروسته
خپلو دردو سره و تللی
د اندېښنو د پټولو په تلاش کې،
چا ته به ناست و
چې یې ډاده کړي:
»ته خو اوس ښه یې کنه؟
اوس خو به نه ډارېږې؟«
ګوري
که دغه ستوري دي روښانه
دا به ضرور د چا په کار وو
دا به ضرور وه چې ماښام کې
که نور څه نه وي تش یو ستوری
هلته د بام پر سر ځلېږي

---

[31] په اصلي روسي متن کې «واورئ»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Послушайте!

Послушайте!
Ведь, если звезды зажигают —
значит — это кому-нибудь нужно?
Значит — кто-то хочет, чтобы они были?
Значит — кто-то называет эти плевочки жемчужиной?
И, надрываясь
в метелях полуденной пыли,
врывается к богу,
боится, что опоздал,
плачет,
целует ему жилистую руку,
просит —
чтоб обязательно была звезда! —
клянется —
не перенесет эту беззвездную муку!
А после
ходит тревожный,
но спокойный наружно.
Говорит кому-то:
«Ведь теперь тебе ничего?
Не страшно?
Да?!»
Послушайте!
Ведь, если звезды зажигают —
значит — это кому-нибудь нужно?
Значит — это необходимо,
чтобы каждый вечер
над крышами
загоралась хоть одна звезда?!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سید رضا محمدی

۱۹۸۰ ؟



رضا محمدي د دري ژبې افغان شاعر او نقاد دی. له افغانستان بهر د پارسي ژبې په ټوله فرهنګي ساحه کې پېژندل شوی او منل شوی شاعر دی. محمدي د دري ژبې د کلماتو او تعبیرونو په کارولو کې د استادۍ تر حده رسېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر دې لوړ و نو له باغه یې جلاکړې[32]
ستا قامت نه ډارېدل ته یې نسکور کړې
ته به نه مرې ستا تکل به تل ژوندی وي
تل به پایي د کندهار مېړنتوب تا کې
د جګړې پر ډګر ستا توره به تل وي
تل به یاده ستا مېړانه ستا ځواني وي
وير به نه وي، ستا پر لاره به روان وي
شازلمي، څو دا هېواد او دا جهان وي

[32] دا شعر  سید رضا محمدی د جنرال عبدالرازق اڅکزي د شهادت په مناسبت لیکلی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترا به جرم بلندی زباغ ببردند
ز سرفرازی ات ای سرو سبز ترسیدند
تو زنده میمانی استواری ات زنده است
نشان کاکه گی کندهاری ات زنده است
شجاعت تو به روزنبرد خواهد ماند
به یاد کاکل خونین مرد خواهد ماند
عزات روحیه قهرمان شدن باشد
تو زنده مې مانی تا وطن وطن باشد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# John McCrae - جان مک کري

۱۸۷۲ – ۱۹۱۸

جان مک کري کاناډايي طبيب، شاعر او ليکوال دی. په ۱۹۴۶ کې د کاناډا حکومت مک کري ته د ملي تاريخي حيثيت درلودونکي شخصيت (Person of National Historic Significance ) لقب ورکړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## خوبولې سندرې

ځئ وېدې شئ لېمه ګيو
اوښکې ماشومانې ستاسې لوبو کې رغړېږي په سر اوړي
په ارام شئ، د شپې غم داسې څه نه دی چې حساب شي
د هغو ښاديو مخ کې چې سبا مو ترېنه ډک دی
څه، ويده شه، ته، زړګيه
د خوبونو په دنيا کې نشته، ځای د اوښکو نه شته
ژوند به ژر درلره راوړي
بوړېنونکې غوندې ترهې
ها غمونه چې وروستی عمر به تت کړي
نو ويده شه، ته، زړګيه
آه، کوچنيو ليمه ګيو!
د زاړه پسرلي مړې شوې ها غوټۍ چې
د ژوندون سېلاب ميده کړې
هلته ښکته يې ډېرې ډېرې خپرې کړي
بختورې واورې لاندې
څه، ويده شه، نور، زړګيه
چې لا مخکې دې درزا نه لاس اخيستی!
دا کلونه چې بې غبره راځي، درومي
داسې څه ورسره نه شته چې يې وايي
خو همدومره چې خوب خوږ دی
ای زړګيه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Slumber Song

-I-

Sleep, little eyes
That brim with childish tears amid thy play,
Be comforted! No grief of night can weigh
Against the joys that throng thy coming day.
Sleep, little heart!
There is no place in Slumberland for tears:
Life soon enough will bring its chilling fears
And sorrows that will dim the after years.
Sleep, little heart!

-II-

Ah, little eyes
Dead blossoms of a springtime long ago,
That life's storm crushed and left to lie below
The benediction of the falling snow!
Sleep, little heart
That ceased so long ago its frantic beat!
The years that come and go with silent feet
Have naught to tell save this — that rest is sweet.
Dear little heart.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پابلو نرودا - Pablo Neruda

۱۹۰۴-۱۹۷۳



د چیلي شاعر او سیاستوال پابلو نرودا په ۱۹۷۱ کې د نوبل د ادبیاتو جایزه وګټله. د نوبل د جایزې د ورکړې پر مهال نرودا وویل : «یو شاعر هممهاله د پیوستون او یوازېتوب څواک دی». د اسپانیې د جنګ پر مهال نرودا د اسپانیې په بارسولونا ښار کې د دیپلومات په توګه کار کاوه. د جنګ په اوږدو کې او په خاص ډول د ګارسیا لورکا تر وژنې وروسته یې په زغرده او برالا د جمهوریت له لوري ملاتړ وکړ او د ژوند تر پایه ژمن شاعر پاتې شو. د ۱۹۷۳ د کودتا په ترڅ کې د نرودا کور ولوټل شو او کتابونو ته یې اور واچول شو. په دې وخت کې ناروغه و خو ویل کېږي چې په روغتون کې مړینه یې طبیعي نه وه. هغه، هغه مهال ویلي وو : «دلته یوازینی خطرناک شی، شاعري ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستا خندا

که دې زړه وي نو ډوډۍ مې رانه واخله
هوا هم واخله که غواړې
خو خندا دې را نه ماخله

ها د ګلابو ډنډر چې دې په لاس کې
لکه د تورې را ته نیولی
هغه اوبه چې کله ناڅاپه
ستا خوشالی کې په شرپ او شړوپ شي
د سپینو زرو هغه څپه چې
د تا له لوري کله خپره شي

زه چې له سختې جګړې بېرته
کله راستون شم. ستړګې مې ستړې
پرې مې لیدلې، دنیا هغه ده
خو چې درشل ته درننېږدې شمه خندا دې واورم
چې ما پسې بره اسمان ته خېژي
د ژوندانه چې څومره لارې شته دي
زما په مخه واړه راپرانیستل شي.

ګلې چې کله په توره شپه کې
ته راته ګورې، د لارې تیرې
زما په وینو ناڅاپه سرې شي
نو را ته خانده،
ستا دا خندا به
زما لاسو کې
نوې وسله شي

د سمندر خواته، د منې وخت کې
خپله خندا کړه دې شان ته مسته
چې سپین ځګونه فوارې وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پسرلي کې به دې خندا ته
د هغو ګلو رنګونه ورکړې
چې ما يې عمر په تمه تېر کړ
هغه ګلاب، او هغه وسمه چې
زما د خاورې انګړ کې خاندي

شپو پورې خانده
ورځ، که سپوږمۍ وي،
که ورکې لارې، په جزيرو کې،
دغه مين هم چې ډېر ساده دی، ورپورې خانده
خو چې زه سترګې کله پرانيزم
بيا يې ترمه
چې د پښو پلونه مې لېرې کېږي
يا بېرته تا ته درنږدې کېږي
ډوډۍ مې واخله،
هوا، سهار او پسرلی واخله
خو ګرانې هېڅ وخت
خپله خندا دې رانه وا نه خلې
که نه نو مرمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Tu Risa

Quítame el pan, si quieres,
quítame el aire, pero
no me quites tu risa

No me quites la rosa,
la lanza que desgranas,
el agua que de pronto
estalla en tu alegría,
la repentina ola
de plata que te nace.

Mi lucha es dura y vuelvo
con los ojos cansados
a veces de haber visto
la tierra que no cambia,
pero al entrar tu risa
sube al cielo buscándome
y abre para mí todas
las puertas de la vida.

Amor mío, en la hora
más oscura desgrana
tu risa, y si de pronto
ves que mi sangre manch
las piedras de la calle,
ríe, porque tu risa
será para mis manos
como una espada fresca.

Junto al mar en otoño,

(c) ketabton.com: The Digital Library

tu risa debe alzar
su cascada de espuma,
y en primavera, amor,
quiero tu risa como
la flor que yo esperaba,
la flor azul, la rosa
de mi patria sonora.

Ríete de la noche,
del día, de la luna,
ríete de las calles
torcidas de la isla,
ríete de este torpe
muchacho que te quiere,
pero cuando you abro
los ljos y los cierro,
cuando mis pasos van,
cuando vuelven mis pasos,
niégame el pan, el aire,
la luz, la primavera,
pero tu risa nunca
porpue me moriría.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Heinrich Heine – هاینریش هاینه

۱۷۹۷ – ۱۸۵۶



الماني شاعر هاینریش هاینه ته د المان وروستی رومانیک شاعر او د رومانتیزم بشپړوونکی هم ویل شوي دی. ده وکړای شول چې روانه الماني ژبه په داسې ادبي او هنري ژبه بدله کړي چې تر ده دمخه یې ساری نه و. شعرونه یې تر بل هر چا زیات د موسیقي په پردو کې نغښتل شوي او نورو ژبو ته ژباړل شوي دي.

له کارل مارکس سره لیدنه یې د ژمن ادب لوري ته راکاږي او د مارکس په تشویق د سیاسي شعر، طنز او هزل لوري ته مخه کوي.

د ژوند په وروستیو کې فلج کېږي او خپل وروستي وختونه په هغه څه کې تېروي چې دی ورته خپل «د توشک قبر» (*Matratzengruft*) وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې زما تیاره ژوندون کې[33]
یو ښکلوکی شان انځور و
اوس انځور، تللی، الوتی
زه په توره شپه کې غرق یم
ماشومان چې په تیاره کې
وارخطا شي او ډارېږي,
نو له وېرې چې ځان ژغوري
په لوړ غږ سندرې وایي
ګلالی ماشوم زه هم یم
اوس نو دغو تورتمو کې
دا سندره مسته نه ده
خلاصوي خو مې له وېرې،

[33] د الماني متن په پوهېدلو کې مې له فرانسوي ژباړې مرسته اخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

In mein gar zu dunkles Leben
Strahlte einst ein süßes Bild;
Nun das süße Bild erblichen,
Bin ich gänzlich nachtumhüllt.

Wenn die Kinder sind im Dunkeln,
Wird beklommen ihr Gemüth,
Und um ihre Angst zu bannen,
Singen sie ein lautes Lied..

Ich, ein tolles Kind, ich singe
Jetzo in der Dunkelheit;
Ist das Lied auch nicht ergötzlich,
Hat's mich doch von Angst befreit.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوریس ویان - Boris Vian

۱۹۲۰ - ۱۹۵۹



فرانسوی لیکوال، شاعر، نقاد، کمپوزیتور، سندرغاړی او د جاز موسیقي ترومپت غږوونکی د هنري خلاقیت یوه بېلګه ده. د وجودي فلسفې له کړیو سره نږدې پاتې شوی، د رېموند کونو (Raymond Queneau) د پاتافیزیک کالج «دایمي ساتراپ» و. په شعر، سندره او داستان کې له کلمو سره لوبې او د نوو ترکیبونو ابداع یې د کار ځانګړتیاوې دي. له حاکم نظام او ټولنیز سیستم سره نه دی جوړ او صریح انتقاد پرې کوي، ځکه خو یې لیکنې په وارو وارو د فرانسې د عدلي سیستم له خوا محکومې شوې دي. له «نظامي‌ګری» کرکه لري او په صراحت سره یې بیانوي. د ویان سندرې او شعرونه (که څه هم د هنري کیفیت له مخې د فرانسې په تدریسي کتابونو کې خپل ځای مومي) تر ۱۹۸۱ پورې یې (چې د فرانسوا میتېران په مشرۍ چپي احزابو حکومت جوړ کړ او د رسنیو فضا یې پرانیسته) د فرانسې په دولتي او رسمي نادولتي راډیوګانو او تلویزیونونو کې د خپرېدو اجازه نه درلوده.

ویان د ۱۹۶۰ لسیزې د معترضو ځوانانو په منځ کې خورا منلی شخصیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خبرې شوې[34]

خبرې ټولې
سل واره شوې
تر ما بهترې.
زه چې لیکمه
دغه سندرې
دا مې خوښېږي
دا مې خوښېږي
دا مې خوښېږي
تاسې در درومئ
خپل نظرونه
څېرته خوندي کړئ

[34] د دې شعر د پای ټکي (د فرانسوي متن وروستی کرښه) یو څه «کراهیت» لري نو په پښتو متن کې (وروستی درې کرښې) نرم شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Tout a été dit cent fois

Tout a été dit cent fois
Et beaucoup mieux que par moi
Aussi quand j'écris des vers
C'est que ça m'amuse
C'est que ça m'amuse
C'est que ça m'amuse et je vous chie au nez.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژوند د غاښ په شان دی

ژوند د غاښ په شان دی
اول دې ورته پام نه وي
ژوول پرې کوې
بیا ناڅاپه چینجن شي
درد کوي خو ساتل يې غواړې
علاج يې کوې، اندېښنه ورته لرې
خو که غواړې چې رېښتیا ترې روغ شې
ایستل يې په کار دي. دژوندانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

La vie c'est comme une dent
D'abord on n'y a pas pensé
On s'est contenté de mâcher
Et puis ça se gâte soudain
Ca vous fait mal et on y tient
Et on la soigne et les soucis
Et pour qu'on soit vraiment guéri
Il faut vous l'arracher la vie

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پول وېرلېن - Paul Verlaine

۱۸۴۴ -۱۸۹۶



فرانسوي شاعر او نقاد، خپله لومړۍ ټولګه په دوه ويشت کلنۍ کې خپره کړه او تود هرکلی یې وشو. د سمبولیست (Symboliste) ادبي خوزښت سرلاری بلل کېږي. آهنګينه، روانه ژبه، «نيم‌تياره-نيم‌رڼه» انځورونه، په «نيمه کې» خبره کول، د ښکاره بيان پر ځای په نامستقيم ډول د لوستونکي په فکر کې د مفهوم تداعي کول د وېرلېن د شعر ځانګړتياوې دي. وېرلېن هڅه کوي چې شعر يې د موسيقي په څېر په يو ناويل شوي بيان کې د مخاطب زړه ته لار وکړي.

په ۱۸۹۴ کال کې «د شاعرانو شهزاده» وټاکل شو. دا لقب له شپاړسمې پېړۍ را په دې خوا په انتخابي ډول هغو شاعرانو ته ورکول کېږي چې تر نورو متفاوت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سمندریزه

له شوره ډک سمندر
د ویر څپلې سپورمۍ
تر سترګو لاندې
سره رېږدېږي
یو د برېښنا پړک
عجب، تور زړی
په رڼې څرېکې
خړ اسمان څیري
د اوبو هره څپه
په ټوپو غورځي
د ساحل تیږو
سره غرېږي
سره ځلېږي
پاس په اسمان کې
چې توپان ځغلي
تالنده څومره
په شرنګ غورېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Marine

L'Océan sonore
Palpite sous l'oeil
De la lune en deuil
Et palpite encore,
Tandis qu'un éclair
Brutal et sinistre
Fend le ciel de bistre
D'un long zigzag clair,
Et que chaque lame,
En bonds convulsifs,
Le long des récifs
Va, vient, luit et clame,
Et qu'au firmament,
Où l'ouragan erre,
Rugit le tonnerre
Formidablement.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویکتور هوګو - Victor Hugo

۱۸۰۲ – ۱۸۸۵



له شاعر او ادیبوه آندرې ژید (André Gide ، ۱۹۵۱-۱۸۶۹) څخه و پوښتل شول چې د فرانسې تر ټولو ستر شاعر څوک دی؟ هغه ووېل: «له بده مرغه هوګو!». د ژید خبره به یو څه د طنز رنګ لرې خو دا ترې جوتېږي چې په فرانسوي ادبیاتو کې هغه څوک هم د هوګو له مقامه انکار نه شي کولای چې نه یې خوښېږي. هوګو لیکوال دی، شهکار ناولونه یې لیکلي دي (بېنوایان یې لسګونو ژبو ته ژباړل شوی)، شعرونه یې لیکلي، د تیاتر له پاره یې ننداري لیکلې دي او په نولسمه پېړۍ کې یې په فرانسه او اروپا کې د ازادۍ غوښتونکو نهضتونو سره ملتیا کړې ده. د اعدام د سزا کلک مخالف و، د عبرت له پاره مجازات ورته داسې ښکارېدل لکه ټولنه چې له مجرم څخه غچ اخلي، د جنګ پر ضد او د سولې په پلوۍ یې تر هر ممکن تریبیون ځان رساوه.

هوګو له خپل هېواد او خپلو خلکو سره مینه درلوده او دا مینه یو طرفه نه وه. دوه میلیونه پاریسیان د هوګو په جنازه کې حاضر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژن وچې ډوډۍ ته ناسته وه[35]...

(1802-1885)

ژن، په توره خونه کې وچې ډوډۍ ته ناسته وه. کوم جرم به یې کړی و. خپل مسوولیت ته مې شاکړه، مجرمې ته – چې ګونا یې ثابته وه – ورغلم او په تیاره کې مې، په غلا، د مربا بوتل وروړاندې کړ. د قانون خلاف! ټول هغه کسان چې زما په ښار کې د ټولنې د نظم او سوکالۍ مسوولیت ورپه غاړه و، و قهرېدل. ژن په نرم آواز وویل:

-بیا به ګوته په پوزه کې نه ننه باسم، ځان به د پیشو شوکارو ته نه ورکوم.

شا وخوا چغې شوې. دا ماشومه تا پېژني. پوهېږي چې څومره ضعیف او بې غیرته یې. هغه دې ویني چې کله څوک په غوسه شي، ته پټ پټ خاندې. په دې ډول حکومت نه چلېږي. هره شېبه عامه نظم اخلالېږي. قانون نه شته. دا ماشومه نور حد نه پېژني، ته هر څه له منځه وړې.

ومې ویل:

-د دغو خبرو پر وړاندې بې ځوابه یم. ګونا مې منم. تاسې ریښتیا وایاست چې په همدغه ډول مهربانیو ولسونه د تباهۍ پر لور بیول کېږي. ما هم وچې ډوډۍ ته کښېنوئ.

-همدا دې سزا ده. ورته به دې کښېنوو.

ژن په تیاره کې خپلې ښکلې سترګې ما ته راواړولې، د مهربانو موجوداتو په فطري ځواک یې راته ورو وویل:

-خیر دی. زه به مربا دروړم.

---

[35] «د نیکه والي هنر» له کتاب څخه د یو نظم منثوره ژباړه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**